په پېښور ره په تا څهٔ شوي دي

شعيب خان خټک

ټول حقونه زما د ماشومې لور "رنا" په نوم محفوظ دي۔(مصنف)

د کتاب نوم ـــــ يه پېښوره په تا څۀ شوي دي
ليکوال ـــــ شعيب خان خټک
اشاعت ـــــ ۲۰۱۴ء
کمپوزر ـــــ شعيب خان خټک
شمېر ـــــ پنځۀ سوه (۵۰۰)
پرېس ـــــ عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور
بيعه ـــــ ۱۵۰
درک ـــــ قمر ميله نظام پور، نوښار
موبائل ـــــ ۰۰۹۲-۳۰۱۸۷۶۴۵۴۳
اى ميل ـــــ shoaib_paaras44@yahoo.com
په اهتمام ـــــ اجمل خټک پښتو ادبی جرګه
خېراباد، نوښار

د موندلو درکونه

يونيورستي بک ايجنسي پېښور
شاداب بک سنټر کيولرى روډ نوښار
الاخوان بک سنټر نظام پور
انور خان لالا پښتو اکيډيمى پېښور

ترون

- د خپلې خوږې مور او خوږ بابا جان په نوم چې د چا په د عاګانو راته ګرانې اسانېږي-
- د خپل خوږ، مینه ناک، ګران او بې بدله استاد پروفیسر مسعود جان په نوم او د هر هغه استاد په نوم چې د خپل فرض سره مخلصه دے-
- لکه د مشر ورور خوږ ملګری دلدار علی شاه (مرحوم) په نوم چې ټول عمر ې د انسانیت خدمت ته وقف کړے وو-

فهرست

يو ښو خبرې هارون الرشيد خټک	8
زلمے شعور، زلمے شاعر پروفيسر همايون همدر	14
زما شاعر، زما آواز پروفيسر مسعود جان	21
دوه خبرې، يو ارمان شعيب خان خټک	23
حمد	25
لر کړه په خپل فضل تول آفات مې د وطن	26
تا ته هم خيال په هر يو کار په هر قدم پکار دے	27
جنګ د پردي کور زما کالۀ کښې دے	28
ستا د کوڅې دا طوافونه به تر کومه کړمه	29
ژوند بې له تا نه د اور لمبې دي	30
بېلتون د زړۀ د پاسه راکړے تک جانانه	32
ياره نن سبا خلق	33
څنګه دې هېر کړم په آسانه حق حېران دې کړمه	35
پردي وطن کښې خو هر چا ته کلے کور ياد يږي	36
د کلي ژوند ساده وختونه ښومره خوند وو پکښې	37
د مينې محبت کومه کر چې چرته ځم	38
داسې کم ساعت دے چې مې هېره ئې	39
مورنۍ ژبه	40
زړۀ چې بيمار شي نو د يار د ديد علاج غواړي	44

زړګي به مي محبوبې د بل چا سندرې وائي	45
بس د ے د رومان غزلې نه ليکم	46
لار دې کړه زما ځني جدا ښئ دې او نئ کړل	47
د سترګو تور د زړۀ ټکوره ياره	48
دلته د سر امان خو شته د ے کنه کور ته مه ځه	49
د کلي خلق د يو لار خلق دي	50
راته پرته ده په هر خوا مسئله	52
له بې وسی رانه جانان پاتې د ے	53
شم به په کلي کښې رسوا دلبره	54
اوچته مرتبه ده اوچت شان د پښتنو	55
ټوپک	57
په خپلو ګټو او فائدو پسې ځي	58
کله بم چَوي کله ډزې په بازار کېږي	59
زما په زړۀ زما ځيګر کښې اوسې	61
لېونو په شانې ګرځم نن سبا کلي په کلي	62
د هر چا خپل فکر د ے خپل سوچ د ے	63
وير د ے او ژړا ده د خندا هډو نامه نشته	64
نه خو د طبيب نه د دوا سره جوړېږي	65
د غم سره بلد شوم شوګيرو سره بلد شوم	66
خپل ګران بابا جان ته	67

لړې شان خبرې راته د ېرې شي	71
چې مرګ ئې ياد وي غم د قبر کوي	72
وايه د خپل زړۀ د پردو پرېږده	73
د بل په خوښۀ باندې ژوند کړُو نو ښاد چرته کښې يُو	74
لړ په مزۀ شه لړ په رو راشه	75
زۀ په پښتو مئين يم، په پښتنو مئين يم	76
ګلې د ستا مينه پاګله مينه	77
د ديد قحطي شوه مور مې وائي چې ګودر ته مه ځه	78
ياره که پخلا شې ښۀ به د ېره وي	79
چې په محفل کښې شاعران ناست وي	80
ښار کښې چې شر کېږي او شور کېږي	81
چې سره زر نه وې ځلېدلې ولې	82
بدلون	83
بد مې هغه لګي چې ګټې ځائے ته ځان اوباسي	84
د چا سر نه وي، د چا ښپې، د چا لاسونه توبه	85
اوس مې زندګي همزولو ګرانه شوه	86
اٰه مې د زړۀ، فرياد په خله راځي	87
ستا د ښائست ستا د ښکلا خبرې	88
ژوند که بې له تا نه تېرېدلے شومره ښۀ به وه	89
يار چې له ياره جدا کېږي خلقه	91

که ستا په شانې ښائست په دې جهان نشته	92
ښکلې حیانا که پرده داره ده	93
بل به اورونه شي سرخي په شونډو پورې نه کړې	94
زړهٔ مې ژاړي چې ئې وینم چې په کوم یو لوري ځمه	95
زما کلے	96
بل قتلوي او که نه ځان قتلوي	99
که ئې ساده که ئې نادان لالیه	100
اور دې په کور اولګېدې په خطر پښتونه	101
نه ستا زړګے صبرېږي نه زما زړګے صبرېږي	102
کوه د مینې د مستۍ خبرې	103
مورې	104
ډېره موده پس چې یو څو لحظو ته یار ملاو شي	106
چم کښې به نه وي د بدو خبرې	107
پېغله ئې ده ښکلې لکه حُور زما د کلي	108
ګیله	109
ګناه مې دا وه	112
فرق	113
هائیکو	115
یه پېښوره په تا څهٔ شوي دي..؟؟	118
پوښتنه	121

يو څو خبرې

د دې کتاب "يه پېښوره په تا څۀ شوي دي" مصنف زمونږ زلمے شاعر ښاغلے شعيب خان خټک دے چې تعلق ئې د خوږه خټک نظامپور يو ډېر ښائسته کلي کمرمېله سره دے۔ د خټک نامې دا کلے د افريدو علاقې "موسیٰ درې" سره په بريد پروت دے۔ د موسیٰ درې لوے خوړ هم د دې کلې په مېنځ کښې بهېږي۔ د دې کلې د يو چينې اوبۀ د بجلۍ د پمپ په ذريعه د چراتې چهاونۍ ته خېژي۔

د دنيا د هنګامو او د شورنه لرې په خاموشه فضا کښې د دنګو غرونو په لمن کښې او د موسیٰ درې د سپينو رڼو اوبو په غاړه آباد دا کلے چې پلوخې، بېرې، زېړونې، ګنډيري، او کرکڼې پکښې پرېمانه دي خپله هم يو شاعرانه او مينه مينه ماحول لري۔ او لکه چې اجمل خټک دا شعر د داسې کلي او ماحول د پاره وئيلے وي چې :-

په دې ښکلې فضا کښې چې هم حُسن شته هم مينه
رباب که دلته کېږدي نو پخپله به ټنګېږي

د دې کلي وړومبے صاحبِ دیوان شاعر ښاغلے عبدالحمید بابا وو چې د کلام نمونه ئې (قلمي) د خپل نمسي پروفیسر اظهار خټک صاحب سره محفوظه ده ۔ اظهار صاحب هم د پښتو ژبې ښۀ لیکوال او د دوو کتابونو "هارون الرشید د شنو کاڼو خټک" او د شعري مجموعې " د دیدن کندهاو" مصنف دے۔ په کراچۍ کښې مېشتۀ شاعر ادیب ښاغلے اقبال شاه (ماښام خټک) هم د دې ښکلي کلي استوګن دے چې د شعري مجموعې "په وجود کښې نه ځائیږم" مصنف دے۔ زلمي شاعران اقبال احمد سحر خټک او حوالدار شاه باران خټک هم د دې کلي استوګن دي ۔ په دې وړوکي شان کلي کښې دومره شاعران لکه چې د ستر خوشحال خټک د دې شعر عملي تصویر وي چې

د خوشحال سره چې کیني یو څو کاله
دا د غرۀ خټک به واړه شاعران شي

شعیب خان خټک په کال ۰۲-۰۲-۱۹۸۶ کښې د جعفر شاه کره زیږیدلے دے۔ په کال ۲۰۰۲ کښې لسم ۲۰۰۴ کښې دولسم ۲۰۰۶ کښې څوارلسم او۲۰۰۸ کښې ئې د ګورنمنټ پوسټ ګریجویټ کالج نوښار نه په سیاسیاتو کښې د ایم۔اے ډګري اغستې ده۔ د بي ایډ او ایم ایډ ډګرۍ ئې هم اغستې دي او نن سبا په دوبۍ کښې محنت مزدوري کوي۔

شعيب خټک د کمرمېلي په دغه غرئيزۀ سيمه کښې خړپوسې کړي دي .په دغه دنګو غرونو، کَمَرونو او درو په شاعرانه ماحول کښې رالوئے شوے دے۔ د دغه شنو غرونو د لمن نه د راوَتو سپينو چينو رڼې اوبۀئې ځښلي دي نو ذهن او فکر ئې دلته نه ځلا او ښکلا اغستې ده او بيا ورته قدرت د شاعرۍ ملَکه ورکړې ده د اظهار قوت ئې وربخښلے دے نو د ځان غم ئې کم کړے دے۔ د خپلې خاؤرې، خپل اولس، خپلې ژبې، تاريخ او ثقافت فکرونو زيات کړَمن کړے دے۔ '' يه پېښوره په تا څۀ شوي دي" ئې د دغه لوغړن احساس هنداره ده.

شعيب خټک خو په ظاهره پېښور ته مخاطب دے خو دغه پېښور ته مخاطب کېدل ټولې پښتونخوا ته مخاطب کېدل دي ځکه چې پېښور د پښتونخوا مرکز دے او د پښتونخوا د ګوټ ګوټ خلق چې د هر ځائے دي هر ځوک د هرې تپې د هرې کوڅې او هر کلي دي دلته د پېښور په فراخه، خوږه، پسته او ګل ورينه سينه ژوند کوي نو د پېښور درد، ژړا، وير اويادوَنه د سالمې پښتونخوا او پښتنو درد، ژړا، وير اويادوَنه ده.

په دې عمر کښې دشاعر د ډېرې سنجيده او مقصدي شاعرۍ يو څو نمونې وړاندې کوم.

حالات که هر څنګه وي ژوند کوي خپل
پښتانۀ چا وې چې د ډار خلق دي

شـــعيبه دا قصـــه خـــو تړلـــه ورانـــه د هغـــو ده
چې دي په حفاظت باندې معمـور زمـا د کلـي

لکـــه د ستر احمد شاه بابا ورته خپله پښتونخوا څومره ګرانه ده.

چې چرته هم تـرې لاړ شم د راتلو فکر کښې اوسم
والله کـه مې د ښکلې پښتونخوا زړګـے صبر يږي

د پښتنو په بدحالۍ ئې دې لوغړن فکر ته اوګورئ-

اور دې پـه کـور پـورې د ے ئـې پـه خطر پښتونه
لـړ پـــه حـــالاتو بانـــدې اوکـــړه نظـــر پښـــتونه
ولـــې بـــه نـــه يـم خفـــه څنګـــه بـــه غـــم نـــه کــوم
تۀ چې په شته کور کښې ئې کډه په سر پښتونه

هر هغه څوک چې د خپلو مفاداتو، غرضونو او د چا د ناولو منصوبو د پاره کار کوي او زمونږ زلمي ګلونه ماشومان دې تـه تيارَوي چې ځان پورې بم اوتړه .دا د جنت او د خدا ے د رضا لار ده په حقله شعيب وائي.

بـــل قتلـــوي او کـــه نـــه ځـــان قتلـــوي
مســـــلمان پـــاخي مســـــلمان قتلـــوي
کـــه جنـــت غـــواړې پـــه ځـــان بـــم اوتـــړه
پـــه دې خبـــره مـــې ځوانـــان قتلـــوي

په دغه وحشت او بربريت ئې چې زړهٔ درد اوکړي نو داسې ګويانه شي چې۔

د چا سر نه وي د چا ښپې د چا لاسونه توبه
مرګ په نېټه دے خو دا نن سبا مرګونه توبه
دا چې د خلقو نه سرونه پرېکوي لګيا دي
سينه خالي لري که کاڼيئې دي زړونه توبه

په خپل پېښور مئين شعيب زړهٔ غواړي چې د ګلونو دغه ښار ته لاړ شي خو خپله "ګوډ ے" ورته وائي چې زهٔ درنه تور قميص نهٔ غواړم خو پام چې پېښور ته لاړ نهٔ شې ۔شاعر دا اظهار داسې کوي چې۔

د تور قميص غوښتنه نه کوي د بم د يرې
ما ته مې خپله ګوډ ے وائي پېښور ته مه ځه

راځئ چې اوس ئې د رومانوي شاعرۍ څخه يو نمونه اوګورو۔

داسې کوم ساعت دے چې مې هېره ئې
ته مې د خپل ځانه ژوند کښې ډېره ئې
هسې خو د خلقو نړۍ ډکه ده
تهٔ راته د ټولو نه راتېره ئې

د ښاغلي شعيب خټک په دې مجموعه کښې پابند او آزاد نظمونه هم شته او قطعې، هائيکو هم ۔په پېښور ئې يو سندره چې د کتاب نوم هم دے شته۔د شعيب خټک دې کتاب او بيا

دې شاعرۍ ته ګورم نو وئيلے شم چې که شعيب د نن دور ښۀ شاعر دے نو سبا ته به د پښتو لوے شاعر وي۔
دا مجموعه په اجتماعي ډول د پښتو ادب د پاره يوه ګټوره مجموعه ګڼم او لاس په دُعا يم چې د زلمي شعيب دا فکرونه دې د پښتونخوا دې ويرژن او کړمن ماحول او زخمونو ته پَهې او دوا شي۔ د قلم او تخليق قوت دې ئې نور هم سېوا شي چې پښتانۀئې د فکر نه ځلا او ښکلا واخلي۔ آمين

هارون الرشيد خټک
جنرل سيکرټري
اجمل خټک پښتو ادبي جرګه
خېرآباد ضلع نوښار
۲۰۱۴-۰۲-۱۶

زلمے شعور ، زلمے شاعر

د نائن اليون نه پس چې د پښتنو په خاؤره کوم د اور او زور بُوزغلے اونوستے شو- د هغې تيغې د هر باشعوره کس په فکر، احساس اوزړۀ کښې نيغې ښخې شوي دي- پښتنې عظيمې زمکې چې تل ئې د امن اتلان زېږولي دي- چې بچي بچي ئې د مور په غېږه کښې د امن الله هو اورېدلې ده- په ځانګو کښې ئې د امن او مينې خوږې سندرې اورېدلي دي- هغه پښتنې مياندې چې په ژبه ئې د امن الله هو وه- هغه خوئندې چې د ورونو په ورائې د سيالۍ ستائنې کولې هغه شپونکي زلمي چې د غرۀ په لمن کښې ئې په شپېلۍ کښې د امن او خوږه سندره اړوله--- دا هر څۀ لکه چې د خوب يوه خوږه جُوته وه-

د بلا خپسې دغه خوب تالاترغه کړو- د بلا د خپسې پنجې د امن په مرۍ غلې شوې- زما د امن اتلان، زما واړۀ واړۀ ګلونه ماشومان، پښتنې ميانديې او خوينديې، زلمي سندربولي د خپلو ارمانونو د سلګو شور ته د بارُودو په لوګو کښې ساه نيولي او غريو نيولي کښېناستل- د امن خوږې الله هو او خوږې سندرې اورېدو په ارمان د وير په چم کښې سترګې په لار دي- غوږ غوږ دي- چې کله به د غرۀ د لمن نه د شپونکي خوږه شپېلۍ د امن سندره د زړۀ په تار اړوي-

دا زما د خوږې پښتنې زمکې نقشه ده- دا زما د خوږې زمکې قيصه ده، دا که الميه ده، که حادثه ده، او که قسمت دے- خو يوه لاره ده- چې د امن ده او هغه د سوچ ده، فکر ده، د احساس ده- هغه سوچ هغه فکرچې د وحدت دے او د عمل دے- ځکه چې----

وحدت د عمل راشي چې وحدت ؤشي د خيال

دا د پښتنو شاعر بابائے غزل امير حمزه خان شنواري وئيلي دي- دغسې په هر دور کښې زمونږ شاعرانو د امن او وحدت تپه کړې ده- شاعر د زمانې باشعوره انسان وي- د زمانې په نشيب و فراز د شاعر ژور نظر وي- ځکه چې هغه سترګور وي-

سترګور هرې زمانې پېدا کړي دي، شاعران هر دور پېدا کړي دي- خو د جنګ او بارُودو دې او تېرې عشرې چې کوم شاعران پېدا کړي دي- هغه خو داسې لګي چې د خپلې خاؤرې زمينې حقيقتونو زېږولي دي- په دغه نوخېزه، باشعوره زلمو کښې يو زلمے شاعر شعيب خټک هم دے-

شعيب خټک ته دوه غټ اعزازونه دا هم حاصل دي چې د دوو لويو ښتو د تاټوبي دے- د خوشحال خان خټک او د اجمل خټک د نغري د غاړې دے- د خټکو د غرونو دے- شعيب ته که په ميراث کښې د نيکونو د شاعرۍ برخه رسېدلې ده نو فطري او قدرتي خبره ده- خو د نن دور حالاتو چې هغه ته کوم "شعور" وربخښلے دے نو دا هم د امکان نه بهرنۀ ده- چې د دې حالاتو پېداوار ورته اووايو- هغه د نن شاعر دے-

او زمونږ د نن شاعر د د سندرو په ځائےساندې وائي- د خپلو ويرژړلو او دړدېدلو ساندې- هغه سپرلي او ځوانۍ نۀ ستائي- مړې ژاړي مرګونه ژاړي- او ژاړي به ولې نه چې دا غم لړلي منظرنامه زما د خاؤرې ده- شاعر د عصر نه، نۀ وتے شي، نۀ پرې سترګې پټولے شي-

شعيب خټک څۀ هم که زلمے دے، ځوانې جذبې لري، د

ځوانۍ او مستۍ احساس به ئې په زړۀ کښې غزوَنې کوي- خو هغه دغه نه شي کوے- ځکه چې هغه باشعوره دے- د هغه په ذمه غټه ذمه داري ده- هغه ته د قام سترګې دي، د هغه خبرې ته د قام غوږونه تکۍ دي- د هغه په حالاتو ژوَر نظر دے، د هغۀ مشاهده تېزه ده- هغه وينې چې په دې خاؤره څۀ کېږي- ځکه خو قلم راخلي او ليکي چې------

" يه پېښوره په تا څۀ شوي دي "

دا د زلمي شعيب خټک د شاعرۍ مجموعه ده- زما د خبرو تائيد د کتاب د عنوان نه هم کېدے شي- او يا دا چې د دې کتاب د مندرجاتو په تناظر کښې زما خبرې دي- په دې مجموعه کښې ګڼ شمېر غزلې دي او څنې نظمونه، قطعې او هائيکو هم- په نظمونو کښې يو څو ازاد نظمونه هم شته- او د دې صنفونو په رڼا کښې وئيلے شو چې په ټولو ورته برے حاصل دے نو ښۀ په ډاډه پرې قلم پورته کولے شي- د شعيب خټک عمر دومره نۀ دے خو د ليک او تخليق نه ئې اندازه لګي چې د ننه ئې يو ښۀ توانا فنکار موجود دے- په لږ عمر کښې ئې د ملک نه بهر دنيا هم څۀ لږه ډېره کتلې ده- د مسافرۍ خوارۀ تراخۀئې هم څکلي دي- د هغۀ په ليک کښې

به تاسو دغه حقيقت هم اووينئ چې د مسافرۍ شپې ورځې هغه په کومو حالاتو د خپل نغري نه بهر تېرې کړي دي- د خپلو خلقو انغري چې تاوده ساتي نو د شعيب غوندې زلمي به دغه قرباني ورکوي-

د نني حالاتو عکس د هغهٔ په شاعرۍ کښې څهٔ په دې رنګ دے----

جنګ د پردي کور زما کاله کښې دے
هر خوا ته شر خور زما کاله کښې دے
خوري رانه په چل چل کښې د سر سړي
داسې سړي خور زما کاله کښې دے

په دې شعرونو کښې د روانو حالاتو ژوندے حقيقت په داسې فنکارانه ډَول ښکاره کول د زلمي او تعليم يافته فنکار شاعر شعيب خټک خاصه کېدے شي- هم ددې نه ئې مونږ د فن، تجربې او مشاهدې اندازه لګولے شو- تر دا وخته د شعيب خټک د فکر او نظر لاندې د عصر نقشه او د فن پېمانه د اولس د سوکالۍ، امن او خوشحالۍ په نقطه ولاړه ده- دا يو ارتقائي مزل دے- وخت سره سره په مشاهده او شعور کښې يو خَوالے راځي- تجربې به کېږي، زاويې بدلېږي- او شعيب

خټک ته زمونږ ډېرې طمعې دي- تر دې دمه د غزل په لړ کښې يو کامياب زلمے شاعر دے- د سياسي، سماجي او معاشرتي اړي ګړي او ستُونزو په رمز او ايماء پوهه دے- د حل په لټون ئې دے- او خپله وظيفه د يو شاعر په حېث په احسنه توګه تر سره کوي-

په نظمونو کښې ئې هم د فن او موضوع دواړو خيال يو برابر ساتلے دے- " خپل ګران بابا جان ته "، " زما کلے " ، "مورنۍ ژبه"، "بدلون"، "ګيله"، او "يه پېښوره په تا څۀ شوي دي(سندره)" ډېر د اعليٰ پايې نظمونه دي- "ګيله" يو ازاد نظم دے- چې زما خو ډېر زيات خوښ شو- په دې نظم کښې چې هغه د مسافر د کور ودانې کوم جذبات وړاندې کړي دي- حقيقت کښې دا د هرې ناوې هرې کورودانې د زړۀ اٰواز دے- په دې نظم کښې ډېر په فنکارۍ يوه ښکلې افسانه، يوه ښکلې قيصه چې حقيقت ئې په شا منظر کښې موجود دے ښکاره کړې شوې ده- او د دې نه اندازه لګي چې شعيب خټک يو کامياب نظم ګو هم دے- هائيکو ئې هم داسې اوګڼئ چې د تجربې په بنياد ليکلي دي- ښۀ کوشش دے-

په مجموعي توګه " يه پښوره په تا څۀ شوي دي " زما په خيال د شعيب خټک يوه ښۀ پېرزوئنه ده- کوشش ئې د ستائيلو دے- الله دې اوکړي چې د مستقبل يو منلے فنکار شاعر ثابت شي- او هم دغسې ده- هغه خلق وائي کنه چې مياشت له ورايه معلومېږي-

فقط

همايون همدرد خويشګي

ګورنمنټ پوسټ ګريجويټ کالج نوښار

۲۸ فروري ۲۰۱۴ء

زما شاعر، زما اٰواز

مولانا روم يو ځل ډېوه په لاس بهر ګرځېدو- چا ترې تپوس اوکړو "مولانا صاحب څۀ درنه روک شوي دي؟"- مولانا صاحب ځواب ورکړو "انسان ګورم"- سړي ورته وې "دا دومره ډېر خلق چې دي"- مولانا صاحب وې "دا خو خلق دي زۀ انسان ګورم"- هم دغسې که ما نه څوک زما د شاګردانو په حقله تپوس اوکړي نو زما ځواب به هم دغه وي چې زما په شاګردانو کښې شعيب خټک لکه د يوې ملغلرې ځليږي- د شعيب خان د اخلاقو او کردار په حقله ليکل هيڅ ګران کار نه دے- ځکه چې د يوښۀ کردار څومره هم ضروري اجزاء دي- هغه ما په شعيب خان خټک کښې ليدلي دي- انسان او خصوصاً اُستاد له په عزت او مينه ورکولو کښې خپله ثاني نه لري- د انسانيت د ښېګړې د پاره چې ترې څومره هم کېدے شي نو ډېر په اخلاص ئې کوي- زړۀئې د قام په غم غمژن او روح ئې د انسانيت په درد دردمند دے- او هم دا وجه ده چې خپل لاس او زړۀئې په قامي مسئلو او انساني رويو باندې د ليکلو نه صبر نه کړے شو او هر هغه سوچ او احساس له ئې د قلم ژبه ورکړه کوم چې د هر ماشوم، زلمي او بُوډا ژبه ده-

په هر انسان د هغهٔ د قامي حالاتو، چاپېرچل د وسوسو او د کلتور د بدلون اثر وي- خو ډېر کم خلق دا هر څهٔ کاغذ او قلم ته اوسپاري- او هم دغه کمو خلقو کښې نن شعیب خان ځان شمار کړو چې د دهٔ د پاره کمه او زما او د پښتون قوم د پاره د خوشحالۍ او فخر خبره ده-

که په لنډه خبره زهٔ شعیب خان ختک بیانول غواړم نو هغه به داسې وي چې------

جودانه غونډې یو لال پکښې پیدا شي
نور همه واړه د تورو کانو غر دے

پروفیسر مسعود جان

گورنمنټ پوسټ گریجویټ کالج نوښار

۲۸ فروري ۲۰۱۴ ء

دوه خبرې، يو ارمان

دا خو ښکاره خبره ده چې د هر شاعر په زړۀ دا ارمان وي چې د هغۀ شاعري دې د يو کتاب شکل کښې چاپ شي- هم دغسې زما هم دا ارمان وو چې زما شاعري دې د چاپ د مرحلې نه تېره شي- خو زما د ارمان نه زيات زما د ګران بابا جان دا ارمان وو چې زما د شاعرۍ کتاب چاپ شي او که دا اووايم چې زۀ دا کتاب هم د هغوي د ارمان پوره کولو د پاره چاپ کووم نو غلطه به نه وي- ځکه چې هم داسې ده- او دا ليکل چې کله د پرېس نه ما ته د يو کتاب شکل کښې ملاو شي نو دا به زما د ژوند ټولو نه اهمه ورځ وي- ځکه چې زۀ به د خپل بابا جان يو ارمان پوره کړم- زۀ به په هغه زامنو کښې شمار شم چې د خپل بابا ارمان د هغۀ په ژوند پوره کړي- په خپلې شاعرۍ خبرې ځکه ضروري نه ګڼم چې درنو مشرانو او پوهانو پرې ليکل کړي دي- زۀ د ښاغلي پروفيسر همايون همدرد صاحب، د ښاغلي هارون الرشيد خټک صاحب، د خپل خوږ ترۀ ماښام خټک صاحب او د خپل ګران او زړۀ ته راتېر اُستاد

جناب مسعود جان صاحب ډېر ډېر مشکور يم چې زما په دې کتاب ئې د خپلو خيالاتو اظهار کړے دے- زهٔ د پروفيسر اظهار ختک صاحب او ورسره د اجمل ختک ادبي جرګې خيراباد د ملګرو د مرستې او ډاډ ګېرنې هم مننه کووم-

په آخر کښې زهٔ د خپلو ملګرو اشفاق احمد (پبي)، محمد عاصم (خويشکي) فضل الرحمان (فطرت ختک)، اقبال احمد سحر ختک (کمرمېله)، حوالدار شاه باران ختک(کمرمېله)، خالد بابو(اټک خورد)، امتياز علي شاه (لشوړه) د خپلو ترونو، ماما ګانو، او د خپلو خوړو وروڼو، خوئندو او نورو ټولو خپلو خپلوانو مننه کووم چې زهٔ ئ د دې کتاب چاپ کوو ته را اوپاروم-

په ډېره مينه

شعيب خان ختک

کمرمېله نظام پور

۲۰۱۴-۰۳-۰۱

حمد

لويــــه خدايــــه تـــه باچـــا ئـــې
تـــه پـــالونکې د هـــر چـــا ئـــې

نـــهٔ خـــو ســـتا نـــه څـــوک پيـــدا دي
نـــهٔ خـــو تـــه لـــه چـــا پيـــدا ئـــې

هـــم مالـــک د اٰخـــرت ئـــې
هـــم مالـــک د دې دنيـــائې

تـــه لـــه هـــر چـــا بـــې نيـــاز ئـــې
تـــه د هـــر چـــا نـــه اعلـــي ئـــې

د يتـــيم، لاچـــار، بـــې وســـه
لويـــه خدايـــه تـــه اســـره ئـــې

خدايـــه نشـــته د ې شـــريک ســـتا
تـــه يـــوائې، يـــک تنهـــا ئـــې

★★★

لرګـړه پــه خپــل فضــل تــول اٰفــات مــې د وطــن
يــه خدايــه خــراب شــوي ډېــر حــالات مــې د وطــن

يــو دا نــه چــې پــه کــور بــازار کښــې ســر تــه خطــره ده
محفــوظې جنــازې دي نــه جومــات مــې د وطــن

معيشت په ښکته درومي نه روزګار شته نه ښـۀ مشـر
يوځــائے راجمــع شــوي مشــکلات مــې د وطــن

په ننګ، مينې، غېرت او مېلمستيا کښې ئې ملګرو
ثــانې نشــته پــه واړه کائنــات مــې د وطــن

د امــن پســرليه دلتــه زر راپېښــۀ اوکــړه
لوګــو راتــه تــور کــړي شــنه باغــات مــې د وطــن

پــه هغــه وخــت مــې وينــه پــه جوشــونو شــي شــعيبه
چــې ګــوتې را اوچتــې شــي پــه ذات مــې د وطــن

★★★

تا ته هم خيال په هر يو کار په هر قدم پکار دے
زۀ هم محبوبې چې دا خپله غصه ښنم پکار دے

خلقه بدل دي مقصدونه د ژوندون نړۍ کښې
ښوک د الله نعرې وهي چا ته صنم پکار دے

که بدلون غواړو نو اول به بدلوو ځانونه
د دې نه پس راته يو مشر، تکړه، سم پکار دے

اغياره مه ورکوه بم بارود ټوپک لاسو کښې
زما وړو ته خو په ګوتو کښې قلم پکار دے

تر څو به ژوند کوُو په داسې خونړي ماحول کښې
ملګرو پاڅئ دې خبرې ته څۀ غم پکار دے

مونږ پښتانۀ خو خپل سرونه شيندُو اور مړ کوُو
مونږ ته خو امن ورورولي په هر يو چم پکار دے

★★★

جنګ د پردي کور زما کالۀ کښې دے
هر خوا ته شر خور زما کالۀ کښې دے

خوري رانه په چل چل کښې د سر سړي
داسې سړي خور زما کالۀ کښې دے

ته ئې څۀ پرواه کړې ګله ستا پرې څۀ
وور که دے نو وور زما کالۀ کښې دے

يه اغياره ستا د لاسه ستا په چل
ورور د ښمن د ورور زما کالۀ کښې دے

ستا کالۀ کښې تل وي د خندا جشن
تل د ژړا شور زما کالۀ کښې دے

شولو که يوځائے د لر او بر افغان
بيا ګورې سم زور زما کالۀ کښې دے

★★★

ستا د کوڅې دا طوافونه به تر کومه کړمه
تر څو به ستا تپوس د چم د هر ماشومه کړمه

ډېر څه دې راکړل ډېر ډېر شکر دے په دې قسمته
خو يو ګيله لرم، هغې نه دې محرومه کړمه

څومره هوښيار ښکاري راغلے دے زمونږ په کلي
ښکار هم زما کوي هم زۀ ئې ورته لومه کړمه

هسې نه را مې شي په خله د کور د خلقو مخکښې
زۀ ډېره يره ګُله هر وخت ستا د نومه کړمه

چې ورته ښکاري د انسان وينه په رنګ د اوبو
خدايه د داسې ظالمانو دې محکومه کړمه

اوس مې شعيب د خپل کالۀ په خلقو نه دے پېرزو
مينې پټ ستر ګي تا تر دومره حده شُومه کړمه

★★★

ژوند بې له تا نه د اور لمبې دي
ګرانې جانانه ورځې او شپې دي

یو خوا ئې مخ دے لکه د نمر
بل خوا ئې زلفې خورې ورې دي

زخمي پرې نه شي درنه څوک خلقه
ژبې له تُورو نه هم تېرې دي

ژوند ښکاري نوم دے د کړکېچونو
کم خوا چې ګورم نو مسئلې دي

ستا نه خو ښهٔ دي د ستا یادونه
هر وختې هر ځائے زما سرې دي

بـــل تـــه اســـره کـــړو بـــې غـــمـــه نـــاســـت يـــو
ځکـــه قســـمت کښـــې زمـــونږ تيـــارې دي

زمـــونږه چـــم کښـــې بـــس بـــل څـــۀ نشـــته
هـــر خـــوا تـــه بـــم دے او دهمـــاکې دي

دا چـــې مـــې زړۀ دے ډک د غمونـــو
څـــۀ د دنيـــا دي څـــۀ د هغـــې دي

ښاغلے

چـــې پښـــتو وائـــي خـــو لـــيکلے نـــه شـــي
چـــې مـــورنۍ ژبـــه لوســـتلے نـــه شـــي
کـــه ډيـــر کمـــال لـــري پـــه نـــورو ژبـــو
هغـــه دي هيڅـــرې ښـــاغلے نـــه شـــي

★★★

بېلتـون د زړهٔ د پاسـه راکـړے تـک جانانـه
سـترګي مـې هـم ډکـې وي زړهٔ هـم راډک جانانـه

شي تـاج محـل د مينـې پـه سـيند لاهـو هغـه وخـت
چې راپېـده شي زړهٔکښې ګمـان او شـک جانانـه
چـې مسـئلې پېـدا شـي نـو بيـا جرګـه پکـار ده
مسـئلې نـه حـل کـوي چـرې ټوپـک جانانـه
د مصـلحت خبـرو بانـدې ځـان کـوڼ کـړي خلـق
د شـېطانۍ خبـرې کـوي پـه ټـک جانانـه
چـې نـه راځـې کلـې تـه نـو مـا تـه دا اووايـه
زهٔ درتـه نـه ياد يږم؟يـه پـه زړهٔ کلـک جانانـه
زمـا د چـم ګلالـي پـردي وطـن تـه درومـې
د روزګـارونو نشـته دلتـه درک جانانـه

چې مـا د پاره ليکې مـا پکښې ستائې هر وخت
سـتا هـر غـزل نـه ځـار شـم زمـا خټـک جانانـه

★★★

يــــاره نـــن ســـبا خلـــق
نـــه کـــوي وفـــا خلـــق

کـــار د نـــا اشـــنا اوکـــړي
بعضـــې وخـــت اشـــنا خلـــق

خپلـــو بـــال بچـــو لـــره
کـــړي مســـافرتيا خلـــق

هرخـــوا ځـــان ځـــاني شـــوله
څـــه کـــړي مـــا او تـــا خلـــق

دې ګرانـــې ګرانـــۍ نـــه خـــو
ســـر دي پـــه ژړا خلـــق

خدائیګو چې ښائست لري
ډېر د پښتونخوا خلق

جنګ دے د پردي کلي
مري پکښې زما خلق

نه کوي رښتیا مینه
یه شعیبه دا خلق

اختر ته

خدایه د نړۍ د هغه بل سر نه
خاص تر پېښوره امن راوله
هسې تش په نوم خوشحالۍ مه راوړه
ځان سره اختره امن راوله

★★★

ښکلې دي هېر کړم په اسانه حق حېران دې کړمه
زما د زړه د کلي خانه حق حېران دې کړمه

ته مې نظر نه غورځوې ژوند نه وبستې شې ښکله
ما ته د ټول جهان نه ګرانه حق حېران دې کړمه
ډېر کړکېچونه مو تر مېنځ دي درته نه سمېږم
زما د ژوبل زړه ارمانه حق حېران دې کړمه
اغياره هر څه دې تالاکړل بس دے دروم کنه
غواړې نور څه د پښتونخوا نه حق حېران دې کړمه
زۀ خپل کچه کور کښې په وينه دا دے شپې تېرووم
تا سره څه اوکړم بارانه حق حېران دې کړمه
چې د پښتون وينه بهېږي ولې نه درډېږې
ګرانه وطنه پاکستانه حق حېران دې کړمه

دا چې لاسونه غورزوې ځان سره خاندې، ژاړې
په تا څه چل دے شعيب خانه حق حېران دې کړمه

★★★

پردي وطن کښې خو هر چا ته کلے کور ياد ېږي
هم ورته خپل بابا ياد ېږي هم ئې مور ياد ېږي

هم ئې په زړۀ وي د خوږو ورونو خوږې خبرې
هم ورته توقې مسخرې د خپلې خور ياد ېږي
د چا وربېږي په زړۀ تل د ماشومانو مينه
چا ته شېرينه وي د خپلو وړو مور ياد ېږي
چا ته د کلي مازيګر او د يارانو محفل
چا ته د مستې ليلى ډکو لېچو شور ياد ېږي
داسې ياد ېږي د وطن هر يو ساعت بنده ته
لکه بُوډا ته چې دځوانو متو زور ياد ېږي

په ما شعيب هم زوروره ده د خپلو مينه
ډېر راته پلار ياد ېږي ډېره راته مور ياد ېږي

يو-اے-اي---۲۶-۰۳-۲۰۱۳

★★★

د کلي ژوند ساده وختونه څومره خوند وو پکښې
هغه حجرې او ګودرونه څومره خوند وو پکښې

هغه په غرونو کښې اواز د ياقربان د زلمو
هغه د جُونو جوابونه څومره خوند وو پکښې

ژوندون د مينې، محبت او وروروليٰ نامه وه
نه وې کينې نه نفرتونه څومره خوند وو پکښې

څۀ په ډاډه زړګي به تلمه زۀ د ښار په لوري
نۀ د مرګ يره نه بمونه څومره خوند وو پکښې

يوې ابۍ ته يو بابا د کلي لار کښې وئيل
ستا اداګاني او نازونه څومره خوند وو پکښې

هغه چې تا به وئيل وار اوکړه درځم شعيبه
هغه زما انتظارونه څومره خوند وو پکښې

★★★

د مينې محبت کوومه کړ چې چرته ځم
هم دغه مې روزګار دغه هنر چې چرته ځم

ډېر لر کلي کښې ووسمه په غرونو کښې ملګرو
پاڅم د مُلا بانګ سره سحر چې چرته ځم

چې اوس به راښکاره شي ګلورينې په دې طمع
نظر مې وي د ستا د کور په ور چې چرته ځم

ګرانې نه بې امنۍ، بې روزګارۍ نه اے ملګرو
هر کس دے په ژړا په غوغا سر چې چرته ځم

نن ووې يو پښتون په بې وسۍ چې هېڅ بې هېڅه
دا خلق ما بولي په ترهه ګر چې چرته ځم

ښکل مې کړي، راجخت مې کړي، شي سر په دعاګانو
چې مور نه اجازت اخلم بهر چې چرته ځم

★★★

داسې کم ساعت دے چې مې هېره ئې
تۀ مې د خپل ځانه ژوند کښې ډېره ئې

هسې خو د ښکليو نړۍ ډکه ده
تۀ راته د ټولو نه راتېره ئې

اووايه چې ته د څومرو کالو شوې
څومره ئې اوچته څومره سپېره ئې

زۀ دې هم محبوبې خپلوے نه شم
ستا هم مجبوري ده ته هم ګېره ئې

نن ئې وئيل پوې به شي په ما خلق
تۀ شعيب مې سترګو کښې برسېره ئې

مورنۍ ژبه

يه ځوانه...
داځۀ کوې..
پرېږده دا بابا له ګرېوانه
ځوانه په څۀ غصه ئي
اخر دا څۀ چکر دے
باباجي ته اووايه
دا ځوان غصه ولې دے
بابا ګويانه شولو
بچے دې ځوان زلمي چې
يم د ګرېوان نيولے
دا ئې په دې وجه چې
نن وو پنجاب ته تلے
چا ترې تپوس کړے دے

ته د کوم ځائے ئې ځوانه
دۀ ورته اووئیل چې
د پښور یمه زۀ
هغه ترې بیا اوپوښتل
تۀ وایې کومه ژبه
دۀ ورته ډېر په فخر
اووې پښتون یمه زۀ
هم هغه کس سره وو
د ستر خوشحال یو کتاب
ورته ئې ډېر په مینه
اووې چې دا اولوله
دې کښې ئې څۀ لیکلي
د خوشحال خان په حقله
ما اوربدلي ډېر څۀ
ځوان کتاب واغستلو
پاڼې ئې واړولې
خو ډېر تیټ سترګے شولو
چې ئې په ټول کتاب کښې
د سترخوشحال د نوم نه
بغېرڅۀ نه شو لوستے

نو هغه کس ورته ویل
د خوشحال خان نامه خو
زۀ هم لوستلے شمه
تۀ اخر څنګ پښتون ئې
چې مورنۍ ژبه دې
هلهٔو لوستلې نه شې
ځوان اوس نیولے یمه
زۀ د ګرېوانه په دې
چې زۀ پښتو لوستے شم
ژبه پښتو لیکے شم
خو ما دې ځوان زلمي ته
دې نوي کهول د پاره
په تعلیمي نظام کښې
داسې څۀ نه دي کړي
چې ګني زده کړي پښتو
چې پښتو اولیکے شي
چې پښتو اولوستے شي
دا ځوان په حقه دے چې
ما د ګرېوانه نیسي
خو بچے ته هم واوره

چې راروان کهول ته
تعلیم د ژبې ورکړه
د پښتو ژبې تعلیم
ګنییو ورځ به تا هم
لکه زما په شانې
چرته یو ځوان زلمے
د ګرېوانه اونیسي..

خبرې

ناسته په تولګي کښې د درنو کوه
واړه کاره یاره د سړو کوه
نورو سره نورې ژبې وایه خو
ما سره خبرې په پښتو کوه

★★★

زړهٔ چې بيمار شي نو د يار د ديد علاج غواړي
ظلم چې زور شي نو ملګرو احتجاج غواړي

په نفرت نهٔ خپليږي زړونه مينه مينه دې شي
څوک چې د نورو خلقو زړونو باندې راج غواړي
زما غندل غندل ځواني خاؤرې ايرې شوه لاړه
ظالمان خلق مې د مور او پلار نه داج غواړي
اول د سر امان پکار دے هر سړي ته دلته
ددې نه روستو بيا مکان غواړي اناج غواړي
يو ئې بې کوره کړم، بل خاؤره مې لمبې لمبې شوه
څومره به نورې قربانۍ د وخت سامراج غواړي
هغه چې نخښې د پښتو، پښتونولۍ نهٔ لري
د خپل کلتوره ختمول دغه رواج غواړي

د خپل شعيب د بې وسۍ نه بې پرواه ګلالۍ
ترې نه د سرو زرو دُورُونه غواړي، تاج غواړي

★★★

زړګيه مې محبوبې د بل چا سندرې وائي
تا باندې شېدا دے بس هم ستا سندرې وائي

د ښار څۀ ګاونډتوب دے که وي يو کور کښې ماتم
په بل کور کښې غړېږي ډول سُرنا سندرې وائي

حجره کښې محفلونو کښې که زۀ وايم غزلې
نو کلي کښې ودونو کښې ليلٰى سندرې وائي

بې شکه چې هغه سړے دے خوب باندې اُودۀ
چې هېر ئې اٰخرت وي د دنيا سندرې وائي

ټکور مې خوږ زړګيے کړي دومره ښې را باندې لګي
چې څوک هم د پښتو د پښتونخوا سندرې وائي

همزولي ورته ووې نو حېرانه شوه وئيل ئې
تر اوسه ليونے شعيب زما سندرې وائي

★★★

بس دے د رومان غزلې نۀ ليکم
نورې په جانان غزلې نۀ ليکم

بيا خو ښۀ شاعر نۀ شومه ګلې چې
زۀ په دې دوران غزلې نۀ ليکم

پېغلو د سرو شونډو غورځولے دے
ځکه په پېزوان غزلې نۀ ليکم

زۀ خو مې خپل وران کالۀ شاعر کړمه
څنګ به په کور وران غزلې نۀ ليکم

دومره خود سر نه يم چې بل نۀ وينم
زۀ صرف په ځان غزلې نۀ ليکم

زۀ هم ستا هَمخياله يم شعيبه خو
زۀ د ستا په شان غزلې نۀ ليکم

★★★

لار دې کړه زما ځنې جدا ښه دې او نه کړل
کړمه دې اول غوندې تنها ښه دې او نه کړل

تا اول پخپله ښه په مينه وو را کړي
وادې غست لاسونه رانه بيا ښه دې او نه کړل

يو خوا دې اغياره ورور دے ورور سره وران کړے
بل خوا دې لمبې کړه پښتونخوا ښه دې او نه کړل

مړ دې د مور غېږ کښې کړو ماشوم چې ترهه ګر دے
دومره ظلم دومره ناروا ښه دې او نه کړل

ډېر يتيمانان او ډېرې کونډې ترهه ګره
ژاړې تورو شپو کښې تر سبا ښه دې او نه کړل

ورکړو د بل لاس کښې تا زما د پوزې مهر
يه د وخت حاکم د وخت باچا ښه دې او نه کړل

★★★

دستر ګو تور د زړۀ ټکوره ياره
کله نا کله خو راګوره ياره

زۀ پښتنه پېغله يم ضد مه کوه
دروتے نۀ شمه د کوره ياره
لاخو دې نور نازونه هم اوړے شم
پرېوتې نۀيم له د زوره ياره
کلي ته ځمه چې لږ ساه صُورت شم
ښار کښې تنګ شوےيم د شوره ياره
چرته خو راشه ديدن راکړه کنه
زما په ذهن، فکر سوره ياره
پښتون ته ګوره چې په شته وطن کښې
کډه په سر ګرځي بې کوره ياره

پلار نه دعا اخلم چې عرش ته رسي
هم دعا اخلمه له موره ياره

★★★

دلته د سر امان خو شته دے کنه کور ته مه ځه
پردیس کښې ښۀ ئې پښتونخوا کښې اور دے اور ته مه ځه

څۀ چل خو شته خپل پېښور ته پلار بچے نه پرېږدي
دې نه ئې نه منع کوي چې ته لاهور ته مه ځه

مور مې وئیل ښار ته خو ځې خو ګورې دا مې واوره
چرته چې ګڼه وي د خلقو هغې لور ته مه ځه

د اوسني دَوَر زلمیه جُونا کور ناستې دي
ته اوربدو ته په ګودر د جُونو شور ته مه ځه

زړۀ کښې دي غلا د ښکلو چم ته د تګ شته شعیبه
خو ټینګ به نه شې ته د ناز او ادا زور ته مه ځه

★★★

د کلـــي خلـــق د يــــو لاړ خلـــق دي
دا بـــازاري خلـــق مکـــار خلـــق دي

هـــره ګړهـــۍ مـــري پـــه ســوونو خلــق
ډېـــر پـــه خطرکښـــې د دې ښـــار خلـــق دي

راز د وطــــن د ترقــــۍ وي دې کښــــې
ډېـــر پـــه روزګـــار کـــه بـــې روزګـــار خلـــق دي

مشـــر ئـــې نـــهٔ دے هـــر څـــهٔ هـــر څـــهٔ خلقـــه
دهٔ ســـره نـــور هـــم ډېـــر د کـــار خلـــق دي

پـــه مـــونږه ټولـــو کښـــې بهتـــر دي هغـــه
چـــې پرهېزګـــاره، تقـــوي دار خلـــق دي

څـــهٔ چـــل خـــو شـــته ملګـــرو هســـې نـــه ده
دومـــره مئـــين چـــې پـــه دلـــدار ۱ خلـــق دي

چې پښتونخوا کښې هر خوا امن راشي
د هغې ورځ په انتظار خلق دي

حالات که هر څنګه وي ژوند کوي خپل
پښتانه چا وې چې د ډار خلق دي

دا اوسني خلق دوه ژبي خلق
شعيبه کله د اعتبار خلق دي

۱ـ دلدار علي شاه زما لکه د مشر ورور او خوږ ملګرے چې په ۲۶-۰۹-۲۰۱۳ په ماښام ئې د دې فاني دنيا هجرت اوکړو-

★★★

راتـــه پرتـــه ده پـــه هـــر خـــوا مســـئله
حـــل کړمـــه دا او کـــه نـــه دا مســـئله

چـــې وي د نـــن کـــار خلقـــه نـــن ئـــې کـــوے
هســـې نـــه شـــي درتـــه ســـبا مســـئله

بهـــر چـــې لاړ شـــم نـــو بلهـــا مســـئلې
کـــور تـــه چـــې راشـــم خامخـــا مســـئله

خپلـــــه وړه مســـــئله لويـــــه ګڼـــــي
وړه ګڼـــــي لويـــــه زمـــــا مئســـــله

داســـې ښـــکاريږي چـــې زمـــا وي ســـکوته
خلقـــه چـــې وي د پښـــتونخوا مســـئله

اشـــنا چـــې راشـــي پـــه رپـــا شـــي يـــک دم
شـــعيبه حـــل دې نکـــړه دا مســـئله

★★★

له بې وسۍ رانه جانان پاتې دے
په زړۀ مې دغه يو ارمان پاتې دے

ګټه خو ټوله يار ته يوړله
زما په برخه خو تاوان پاتې دے

لا خو ورَه ده په لړزان ئې کړو ټول
لا خو د حُسن ئې دوران پاتې دے

دي هر يو تن سره بلها غمونه
بچ له غمونو کم انسان پاتې دے

لمن ئې پرېښې د اسلام ده څکه
نن په نړۍ کښې مسلمان پاتې دے

که شوه په عقل نو کېدے شي بنۀ شي
که په قسمت شوه شعيب خان پاتې دے

★★★

شم به په کلي کښې رسوا دلبره
تهٔ که زما نهٔ شوې په شا دلبره

تیارې به اوتښتي چې غم اونهٔ کړې
رابه شي ژوند کښې مو رڼا دلبره

که وي وزیر که وي باچا د وطن
پېرزو مې نه شې په هېچا دلبره

چې مې د زړهٔ غمونه لرې کړي تول
نن شه له ورایه په خندا دلبره

اوس خلق تور دي لکه سکور په زړونو
خلق سپین زړي وُو پخوا دلبره

شعیبه څهٔ کوې د ډېرې مودې
ناسته په نوم یمه زهٔ ستا دلبره

★★★

اوچته مرتبه ده اوچت شان د پښتنو
مثال چرته کښې نشته په جهان د پښتنو

د هر اړخ نه کېږي پرې ظلمونه خو افسوس
په خوب باندې اُودهٔ دي مشران د پښتنو

خراب که دي حالات په باجوړ کښې پښتانهٔ دي
دے سوات د پښتنو، وزيرستان د پښتنو

د وخت د ثالثانو منصوبې خو داسې وائي
صفا به کړي ډېر زر دا پاکستان د پښتنو

يه خدايه کړې پېدا پکښې يو بل داسې اتل
دا څنګه چې اتل وو باچا خان د پښتنو

بيــا را کــه شــي خبــره د عاشــق د معشــوقې
ليلـــى د پښـــتنو وايـــه جانـــان د پښـــتنو

شــعيبه د نــرۍ قامونــه وارِه کــه يوځــائے شــي
شـــه ځـــار د پښـــتنو او شـــه قربـــان د پښـــتنو

ګلستان ته

افســوس چــې ګلســتانه تــه مــې بــل د پــاره اوســوې
لمبــې مــې کــړې پــه تــا بانــدې د هــر طــرف نــه بلــې
زۀ څــومره پــه چــل ول کړمــه اغيــار د ورور بدظنــه
مــا کړلــې پــه پردي جنــګ کښــې تــل خپلــې وينــې تلــې

ټوپک

زۀ هم اغيار ګرمووم
تۀ هم په جار باندې
اغيار ته ګوته نيسې
چې دا زمونږ ورو ته
لاس کښې قلم نه پرېږدي
لاس کښې ټوپک ورکوي
منم هم دغسې ده
خو هسې خپلو کښې يو
يوه خبره کووم
مونږ خپله هم ورو ته
چې کله لوبې کوي
ورته ټوپک اخلو

★★★

په خپلو ګټو او فائدو پسې ځي
نن سبا خلق په پيسو پسې ځي

څوک ډېوه لاس کښې د رڼا په تکل
څوک دي روان په تورو شپو پسې ځي

نصيب ئې مۀ شه د خپل کور خوشحالي
څوک چې د بل کور ورانوو پسې ځي

پتنګ هميش له ځي د شمعې په لور
چا ويل چې شمع پروانو پسې ځي

خوشحالۍ واړه ترې نه لرې تښتي
غمونه واړه پښتنو پسې ځي

نن سبا وخت دے د دانا و خلقو
شعيب نادان دے ليونو پسې ځي

★★★

کـــله بــم چَـــوي کـــله ډزې پــه بــازار کېـږي
ځـــکــه د هــر ســړي د بــل ســړي نــه خـــار کېـږي

چـــا ورپــه ګوتــه کـړو پښـتون پــه څـۀ خطـا ملګـرو
چـــرته چې کېـږي هــم پــه دۀ بانـدې ګـوزار کېـږي

هــغه ســړي تــه خلـق سپـک ګوري خـو نــه پـوهېږي
چې اوښـيارنه وي خو هرڅائے اوښيار اوښـيار کېږي

هــرې خبـرې کښـې تــه زړۀ مــه وهــه شـک مــه کــوه
بــعضــې خبــرو کـښې تـوکـل کېـږي اعتبـارکېږي

نن راته اووې چوکيدار د فـلاني ځائے پـه غـوږ کښـې
چــې هــم تـعلـق وي هــم پيســه وي دلـتـه کـار کېـږي

تـهٔ چـې وعـده د راتلـو اوکـــړې نـو تـه څـهٔ خبـر ئـې
خـدائېـګو کــه مـا نـه یـو سـاعت تـه انتظـار کېـږي

شعیبه ته مې هم په روح کښې شـامل شـوے ئې اوس
خـــلق رښــتیا وائـــي د زړهٔ نـــه زړهٔ تــه لار کېــږي

راځئ

راځــئ چـــې د غمونـــو د ظلمونـــو مـــخ نیـــوے اوکـــړو
راځــئ چـې خوشـحالۍ دې خپــل ویجــاړ کلـي تـه راولـو
بـس ډېـر مـو د خـزان سـپېرو بـادونو کښـې ژوند اوکړلـو
راځــئ چــې پســرلے دې خپـــل ویجـــاړ کلـــي تـــه راولـــو

★★★

زما په زړۀ زما ځیګر کښې اوسې
لالیه ته مې په نظر کښې اوسې

وهم به تا پسې غوپې جانانه
رانه که پټ په سمندر کښې اوسې

تا پرهرونه دي په زړۀ راکړي
ته مې د زړۀ په هر پرهر کښې اوسې

راشه د امن چم له راشه ګله
ښار کښې چې اوسې نو په شر کښې اوسې

پښتونه تا باندې شیدا یمه زۀ
ته که کابل که پېښور کښې اوسې

شعیب ته ګران دي واړه ستا د مخه
ته چې کوم کلي کوم ټبر کښې اوسې

★★★

لېونو په شانې ګرځم نن سبا کلي په کلي
لټوومه چرته نشته د ے وفا کلي په کلي

کليوال کمزوري نه دي د ښاروالو نه په څۀکښې
خو خوره که د تعليم شوله رڼا کلي په کلي

دا زمونږ د کلي درُومي د ښاريو په لوري خلق
که راغلې ده ملګرو دا وبا کلي په کلي

د دروغو ځان ساتے چې دا اٰباد کلي تالا کړي
خوروم به دا خبره خامخا کلي په کلي

که شپه ورځ ورپسې يو کړم په لټون ورپسې ګرځم
نشته بل کښې ستا په شان چرته ښکلا کلي په کلي

چې د خپل د لاسه نه شي خلقه هغه تن به نه شي
چم په چم باندې بدنامه او رسوا کلي په کلي

★★★

د هر چا خپل فکر د ے خپل سوچ د ے
زما بدل د ے ستا بدل سوچ د ے

ستا هېخ اميد د ترقۍ نشته
ياره پرېږده د ستا خوشل سوچ د ے
چې کړو بدل د ګل وطن حالات
زما د ټولو نه اول سوچ د ے
خدايه په ځان کړې هغه ټول خلق
چې ئې د شر او د غوبل سوچ د ے
ډېر زورور لري قلم اجمل
بې حده ښکلے د اجمل سوچ د ے
هر څو که خپله باچا خان نشته
خو تل ژوندے د دې اتل سوچ د ے

شعيب ساده د ے کليوال د ے خو
څه ډېر ژور ئې د غزل سوچ د ے

★★★

وير دے او ژړا ده د خندا هډو نامه نشته
کلي کښې زمونږ سپرليه ستا هډو نامه نشته

شک مه کړه په ما چې ګني بل سره کووم مينه
زړهٔ کښې زما ګلې د بل چا هډو نامه نشته

هغه کس کامیابه دے چې کار پوره کوي په وخت
ژوند کښې چې ئې خلقه د "سبا" هډو نامه نشته

وو چې تول وفا نن هغه خلق چرته دي
نن سبا خو عشق کښې د وفا هډو نامه نشته

او کړه يو ماشوم د خپل بابا نه دا پوښتنه چې
دې تورو تيارو ته د رڼا هډو نامه نشته

ما خو د خپل زړهٔ په سر بس ستا نامه ليکلې ده
په شعيبه ستا زړهٔ کښې زما هډو نامه نشته

★★★

نـــهٔ خـــو د طبيـــب نـــهٔ د دوا ســـره جـــوړېږي
پرهـــر مـــې د اشـــنا د يـــو مســـکا ســـره جـــوړېږي

والله که درست جهان کښې ئې زهٔ بل څوک ثاني وينم
دا ښـــکلې، حياناکـــه پېغلـــه مـــا ســـره جـــوړېږي

هـم خپلـه ژبـه نـه شـي لـيکې نـه شـي لوسـتې خلقـه
دا حـــال د پښـــتنو خـــو د ژړا ســـره جـــوړېږي

پـه رُعـب يـا دبـدبې، سـرې پـه مـال نـه پـه دولـت
افضـــل پـــه انســـانانو د تقـــويٰ ســـره جـــوړېږي

زمـــا خبـــره اومنـــه انســـان ئـــې عـــاجزي کـــړه
خبـــرې د لـــويې خـــو د الله ســـره جـــوړېږي

★★★

د غم سره بلد شوم شوګیرو سره بلد شوم
اشنا د سوو سوو اسوېلو سره بلد شوم

یا ژوند کښې داسې ښکاري کړکېچونه ختم شوي
یا زۀ د ژوندانۀ د کشالو سره بلد شوم

زما د بې وسۍ، بد قسمتۍ انتها دا ده
چې بم سره بلد شوم دهماکو سره بلد شوم

د نوي کهول زلمي ګیله بې ځایې نه ده که وائي
چې زۀ خو نۀ ګودر او نۀ حجرو سره بلد شوم

نن اووې مسافر چې د نړې کلي مې هېر شُو
د کله نه چې زۀ قمرمېلو[۱] سره بلد شوم

۱- قمرمېله زما د کلي نوم دے او قمرمېلو نه دلته مراد د قمرمېلې اوسېدونکي دي-

خپل ګران باباجان ته

ډېر عزتمنده قدردانه بابا
ما ته د خپله ځانه ګرانه بابا
تا ډېرې سختې تېرې کړي په ځان
تا دې ناکړدې ډېرې کړي په ځان
تا به نۀ ورځې او نۀ شپې ته کتل
بابا تا بس زمونږه ښې ته کتل
ستا دې خوارو او مشقت په وجه
باباجي ستا د محبت په وجه
تۀ که وې خپله در په در بابا
خو مونږ اُودۀ نه یُو بهر بابا
چې مې بچې ښکلے پېزار په ښپو کړي
ابۍ مې دې ته ژړېدلي ډېره
چې مې بچې ښۀ اوخوري ښۀ واغوندي
ابۍ مې دې ته زیرېدلي ډېره

مونږ څوارلس خويندې ورُونړه ګران بابا
ساتل ئې کار نه وو اسان بابا
خراب زمونږ وو ډېر حالات بابا
زمونږ يو ورور شولو وفات بابا
ډېرې په مونږه سختې شپې ورځې وې
خو ستا په وجه په مونږ ښې ورځې وې
تا ته به مونږ اووې روپۍ راکړه
تا به وې نن د روپۍ مور مړه ده
مونږ به چې مم اوغوښتو تا به وئيل
د دوکاندار نن بچې مور مړه ده
ستا بې وسي وه ستا نه څار بابا
خفه به نه شُو په انکار بابا
چې شُو مې ورونړه لږ راځوان کله
تهٔ ساه صورت شوې باباجان هله
دا څو خبرې وې د تېرې مودې
اوس به د نن سبا په حال راشم
تا به چې څهٔ رنګې غوښتل بابا
زمونږ حالات دي نن بدل بابا
نه ګرځم زهٔ نن په زړو څپلو کښې
نشته تېګړي د مشر ورور جامو کښې

نــه مــو روپــۍ تــه اوس واړه زيرېـږي
نه مې څۀ فرق شته نن د خور جامو کښې
زۀ د قلــم پــه ژبــه ګرانــه بابــا
تــا تــا خبــرې څــو کــول غــواړم
هغــه خبــرې تــا نــه پتــې نــه دي
خــو زۀئــې دلتــه کښــې ليکــل غــواړم
لکــه د هــر يــوپلار پــه شــانې بابــا
تــه هــم پــه مــا فخــر کــول غــواړې
تــه د يــارانو پــه محفــل کښــې بابــا
زمــا صــفت هــم اوربــدل غــواړې
ســتا يــو ارمــان دے پــه مــا ګرانــه بابــا
چــې زۀ کتــاب د شــاعرۍ اولــيکم
پکښــې پــه تېــره تېــره ګرانــه بابــا
حــال د پښــتون د ژونــدګۍ اولــيکم
ســتا بــل ارمــان دے ليکچــرار شــمه زۀ
بابــا ســتا هــر ارمــان نــه ځــار شــمه زۀ
خــو بــې وســۍ او غريبــۍ د لاســه
زۀ مســافر يمــه وطــن کښــې نــه يــم
ســتا هــر ارمــان پــوره کــوو د پــاره
زۀ پــه خپــل چــم پــه خپــل ګلشــن کښــې نــه يــم

کــــه زهٔ پيســـــې اوګـــــټم ډېـــــرې بابــــا
تــــه پــــه پيســـــو فخـــــر کـــــولے نـــــه شـــې
کــــه درتـــــه جـــــوړ کړمـــــه محـــــل د زرو
تــــه پــــه بنګلـــــو فخـــــر کـــــولے نـــــه شـــې
خوښـــوې تـــــه نـــــه د نمـــــود زنـــــدګي
تــــه خـــــو د مينـــــې محبـــــت اوږے ئـــې
بابـــــا جـــــان ښـــــهٔ راتـــــه معلومـــــه ده چـــې
تــــه د پيســـــو نـــــه د عـــــزت اوږے ئـــې
بابـــــا تـــــر څـــــو چـــــې در پـــــه در يمـــــه
تـــــر څـــــو چـــــې دلتـــــه مســـــافر يمـــــه
تـــر هغـــې ســـتا هـــر يـــو ارمـــان نيمګـــړے
دغـــه بچـــے ســـتا شـــعيب خـــان نيمګـــړے
بابـــا د پـــلار دعـــا خـــو عـــرش تـــه رســـي
مـــا تـــه دعـــا کـــوه ښـــهٔ ډېـــره بابـــا
چـــې پـــه خپـــل چـــم پـــه خپـــل وطـــن شـــتهٔ شـــم
دغـــه دعـــا نـــهٔ کـــړې تـــه هېـــره بابـــا
کلـــه چـــې ســـتا هـــر يـــو ارمـــان پـــوره کـــړم
زهٔ بـــه هلـــې نيمګـــړے ځـــان پـــوره کـــړم

★★★

لـــړې شـــان خبـــرې راتـــه د يـــرې شـــي
اوســـوځم لمبـــې رانـــه چـــاپېرې شـــي

تېـــر چـــې شـــي دوران نـــو بېرتـــه نـــۀ راځـــي
د يـــرې زمـــانې کـــه راشـــي تېـــرې شـــي

کـــړي راتـــه رايـــادې تېـــرې شـــپې ورځـــې
اونـــه کـــه د تُـــوت شـــي کـــه د بېـــرې شـــي

ذکـــر چـــې محفـــل کښـــې د هغـــۀ اوشـــي
سترګو کښـې مـې اوښـکې رابرسـېرې شي

د يـــرې پښـــتنې خپلـــې مرضـــۍ خـــلاف
خلقـــه د وادۀ تـــړون کښـــې ګېـــرې شـــي

نـــن ســـبا شـــعيبه محبـــت کښـــې چـــې
نـــوې ليلـــى جـــوړه زړې هېـــرې شـــي

★★★

چې مرګ ئې یاد وي غم د قبر کوي
هغه به څنګه په چا جبر کوي

اغیار مې څانګې د وجود پرېکوي
ګزار پرې هره ورځ د تبر کوي
هر څۀ لري خو بیا هم ژاړي قسمت
دا بعضې بعضې خلق کبر کوي
تر څو به تږې وي زمونږه زمکه
پښه به دلته کله ابر کوي
په ژوند خو پرېږده خلق مرګ نه پس هم
فرق د امیر غریب د قبر کوي
چې زما نوم اخلي په خله ګلالۍ
خیال د هر ټکي، پېښ او زبر کوي

شعیبه خوښ مې دي هغه خلق چې
د خدا ے په ورکړه شکر، صبر کوي

★★★

وایـــــه د خپـــــل زړۀ د پـــــردو پرېـــــږده
خبـــــره مـــــۀ کـــــوه د تلـــــو پرېـــــږده

تـــۀ د ګلونـــو پـــه بســـتر بنـــۀ ښـــکارې
مـــا پـــه خپـــل حـــال پـــه دې ازغـــو پرېـــږده
چـــې رانـــزدې نـــه شـــې جانانـــه مـــا تـــه
وجـــود مـــې تـــول پـــه رېبـــدو پرېـــږده
کـــوم خـــوا چـــې ګورمـــه تیـــارۀ ښـــکاري
چرتـــــه خـــــولار د پلوشـــــو پرېـــــږده
پرېـــږده تـــازه تصـــویر زمـــا پـــه زړۀکښـــې
غوږ کښې مې شرنګ د شنو بنګړو پرېږده
چـــې پښـــتو ســـپکه ګڼـــي نـــه ئـــې وائـــي
ذکـــــر د هغـــــه پښـــــتنو پرېـــــږده

کـــه ئـــې پرېـــږدې نـــو يـــک دم نـــه ګلالـــۍ
زمـــــا لمنـــــه پـــــه رو رو پرېـــــږده

★★★

د بل په خوښه باندې ژوند کړُو نو ښاد چرته کېږي يُو
مونږ په رښتيا معنو کښې ګله ازاد چرته کېږي يُو

ډېرې مُودې نه راپسې دي هلته شر خوروي
مونږ پښتانهٔ چې اے ملګرو اٰباد چرته کېږي يُو

مونږه همېش قرباني ورکړُو خو ظالم سماج ته
مونږ د ستائنې، شاباشي وخت کښې ياد چرته کېږي يُو

هره لمحه ئې يادُو، هره لمحه ئې ستايو
چې مسافر مونږه د ګل ګل هيواد چرته کېږي يُو

شعيبه مونږه ئې سينه شلولي مخکښې لاړ يو
چې مخالف مونږه راغلي د باد چرته کېږي يُو

★★★

لـــږ پـــه مـــزه شـــه لـــږ پـــه رو راشـــه
د جانـــان غمـــه پـــه دمـــو راشـــه

زلفـې خـورې شـونډې دې سـرې کـړه ګلـې
سـترګې کـړه تـورې پـه رنجـو راشـه

چـې مـې راغلـے جانـان پـاتې شـي نـن
بارانـــه راشـــه پـــه شـــبو راشـــه

خـداے خبـر سـتا بيګـا بـه کلـه راځـي
سـتړے شـوم زۀ پـه شـوګيرو راشـه

د نـــورو ژبـــو پـــه وينـــا کـــړي فخـــر
د نـــوي کهُـــول پـــه پښـــتنو راشـــه

زمـــا د تـــورو تيـــارو ژونـــد لـــه اشـــنا
لکـــه د نمـــر د پلوشـــو راشـــه

★★★

زۀ په پښتو مئين يم، په پښتنو مئين يم
هم په ورو، ځوانانو هم په زړو مئين يم

چې په خپل قام او وطن قربانوي سرُونه
زۀ د هغو نه قربان، زۀ په هغو مئين يم

د ستر افغان په ننګ ئې چې وتړله تُوره
د ستر خوشحال په شانې په ننګيالو مئين يم

ځار شم له دې روايت چې احمد شاه باچا شو
زۀ د شيرشاه په شانې په مېړنو مئين يم

څوک د مجنون لېونے د چا ليلى خوښه ده
ما ته اٰدم راتېر د ےزۀ په درخو مئين يم

زۀ شعيب ويارِ کرم څکه خلقه په خپله مينه
چې ئې تاريخ ګواه د ے په توريالو مئين يم

★★★

ګلې د ستا مينه پاګله مينه
په ټولو مينو کښې اوله مينه

چې راته هېڅ نه لګي مينه د بل
دومره دې څځ له راکوله مينه

زمونږ په سيمه مينه راج کوي تل
ستاسو په چم کښې همېش شله مينه

که وس مې وے ما به نفرت ختمو
ما به په هر يو لور وېشله مينه

بس يوه مينه شي د ژوند سرمايه
هسې خو کېږي څو څو ځله مينه

شوله ګويانه په غزل شعيبه
تا که هر څومره پټوله مينه

★★★

د ديد قحطي شوه مور مې وائي چې ګودر ته مه ځه
بابا مې هم وائي اوس لويهځې بهر ته مه ځه

د تور قميص غوښتنه نه کوي د بم د يرې
ما ته مې خپله ګوډۍ وائي پېښور ته مه ځه

ډير بې ضميره دي خوشحاله د لمبو په مېنځ کښې
بل ته هم وائي چې د سرو ګلونو کر ته مه ځه

زړۀ که ديدن د هغې غواړي نو دا هم وائي
که د هغې عزت کوې د هغې ور ته مه ځه

که څۀ غوښتنه کوې اوکړه د الله د در نه
بې د الله نه ګورې واوره د چا در ته مه ځه

ډېره موده پس ئې راغلے ته د کلي په لور
شعيبه ورځې يو څو تېرې کړه سحر ته مه ځه

★★★

يــاره کــه پخــلا شــې ښــۀ بــه ډېــره وي
غېــږې تــه کــه راشــې ښــۀ بــه ډېــره وي

بې لـه تـا نـه ژونـد د ے پـه لمبو کېږي ژونـد
ګلــې کــه زمــا شــې ښــۀ بــه ډېــره وي

اے غمــه بــس دومــره يــاري ډېــره وه
مــا نــه کــه جـدا شــې ښــۀ بــه ډېــره وي

نــور بــه زړۀ کــړم صـبر ســتا د چـم ځنــې
هســې نــه رســوا شــې ښــۀ بــه ډېــره وي

اے د امــن بــاده کــه تــه زر غونــدې
را پــه پښــتونخوا شــې ښــۀ بــه ډېــره وي

سره ډولۍ کېږي ناسته د هغـه کـور کېږي
خوبــه کــه رښــتيا شــې ښــۀ بــه ډېــره وي

★★★

چې په محفل کښې شاعران ناست وي
د وخت د پرښـه ترجمانان ناست وي

نشته هغو له د توپک څـه حاجت
چې ئې په مېنځ کښې مشران ناست وي

څومره په غور د مور اونيا قيصو ته
ښکلي ګلونه ما شومان ناست وي

خدا ے خبر زړهٔ کښې به ئې څهٔ څهٔ راځي
چې ځوانان کار کړي بوډاګان ناست وي

ويل ئې همزولو ته د ډېره شرمه
نه ځم چې چرته شعيب خان ناست وي

شعيبه شته د ے چې قابل ئې نه دي
خو په کرسو لکه خانان ناست وي

★★★

ښار کښې چې شر کېږي او شور کېږي
ځکه مې زړهٔ کلي په لور کېږي

غريب به څنګ نه وي د حق محروم
دلته هر کار پيسې په زور کېږي
چې وس لري، هغه سپين باز ګرځي
خو بس بې وسو ته پېغور کېږي
چې ډېر مجبور شي نو وطن پرېږدي
والله که زړهٔ د چا له کور کېږي
خوشحالي هم ده خو خفګان هم دے
چې مې وادهٔ د خپلې خور کېږي
خدايه پښتون به لړ دمه هم شي
که ازمېښتونه به پرې نور کېږي

خدايه زما سره چې مل وي ايمان
چې مې سفر په لور د ګور کېږي

★★★

چې سرۀ زر نه وي ځلېدلي ولې
زما د زړۀ کور ته راتللي ولې
رانه دې ټوله پښتونخوا يوړه
اسمانه دومره ورېدلي ولې
نه چرته اورمه ګودر کښې غوغا
نه په حجره ټپې، غزلې ولې
راشه زما د زړۀ تالا ګلشن له
سپرليه داسې رانه زغلې ولې
که دې پردې غمونه نه کولے
خټکه[1] زر به زړېدلي ولې
که ګام په ګام ورسره تلے شعيبه
وخت به څپېړې درکولې ولې

۱- د خټک نه دلته مراد د خټکو قبيله ده چې مدام پردي غمونه کوي. او په دې وجه زر زړېږي-

بدلون

ګلې چې غم اونه کړي

د ستا په اوچو شونډو به زر مسکا خوره شي

زۀ په خپل ګل وطن کښې

د بدلون نخښه وينم

د بدلون دا نخښه چې

ګلي زمونږ د کلي

ټول مزدور کاره بې سَواده خلق

خپله د هارِ غرمې په ځان تېروي

خو د روښانه مستقبل د پاره

خپل واړه لُوڼه زامن سکول ته لېږي

★★★

بد مې هغه لګي چې ګټې ځائے ته ځان اوباسي
خو د تاوان په وخت همېش ځان د تاوان اوباسي

زۀ ئې حېران شم حوصلې ته ورته داد ورکووم
څوک چې پخپله جنازه د خپل ارمان اوباسي

دا ګودرونه چې خالي دي هسې نه دي خالي
دلته اوس ټول خلق کورونو کښې کُوويان اوباسي

خاني ئې ختمه ده پخوا خو اوس ئې هم سپکوي
خدائے خبر کله به شاعر، خُله د دې خان اوباسي

مونږه به څۀ په مخکښې لاړ شُو چې د قام زلمي مو
د پردو ګاډو سره خوا کښې تصويران اوباسي

څۀ که ئې واغستل لاسونه په اسانه زما
ډېره په ګرانه به د زړۀ نه شعيب خان اوباسي

★★★

د چا سر نه وي، د چا ښپې، د چا لاسونه توبه
مرګ په نښته دے خو دا نن سبا مرګونه توبه

دا چې د خلقونه سرونه پريکوي لګيا دي
سينه خالي لري که کاڼيئې دي زړونه توبه

اغيار زما د وړو ګوتو کښې قلم نه غواړي
راته ئې والوځول ځائے په ځائے سکولونه توبه

په غلط کار د اميرغلي وي د سيلمي خلق
په غلط کار غريب ته رنګ رنګ پيغورونه توبه

شعيبه يو ساعت چې هم د سر امان نه لري
داسې ماحول کښې، چاپېرچل کښې د ژوندونه توبه

★★★

اوس مې زندګي همزولو ګرانه شوه
خپله ګلالۍ راسره ورانه شوه

ګوره که ئې زړۀ کښې رحم راغللو
ګوره که په خپلو کړو ستومانه شوه

ورانه که زما د زړۀ دنيا شوه خو
ځه د بل د زړۀ دنيا ودانه شوه

هر خوا ته بهيږي د اُوبو په شان
وينه د پښتون څومره ارزانه شوه

بيا به واړه غواړي د اختر جامې
ځار بې وسه مورې پرېشانه شوه

پنډ ئې د يادُونو در په سر شولو
ګرانه درته ډېره شعيب خانه شوه

★★★

اٰه مــې د زړۀ، فريــاد پــه خلــه راځـــي
بيــا هــم جانــان تپــوس لــه نــه راځـــي

څـــۀ پـــه جُوپـــا او پـــه خنـــدا مســـخرو
لرګـــي پـــه ســـر پېغلـــې د غـــرۀ راځـــي
بارانـــه لـــږ وربـــږه ډېـــر چـــې نـــه شـــي
زمـــونږ د چـــت ځنـــې اُوبـــۀ راځـــي
د مـــزدور ګټـــه دومـــره کمـــه ده چـــې
نـــه پـــرې د کـــور غـــوړي نـــه اوړۀ راځـــي
پېښـــه ســـپرلے زمـــونږ پـــه ســـيمه نـــه کـــړي
د بـــل پـــه ســـيمه بانـــدې ښـــۀ راځـــي
پښـــتون هغـــه دے چـــې مېلمـــه ورشـــي
نـــو پـــه تنـــدي ئـــې کرښـــې نـــۀ راځـــي

کـــه شـــې مســـکے زمـــا د زړۀ د پـــاره
شـــعيبه ســـتا وربانـــدې څـــۀ راځـــي

★★★

ستا د ښائست ستا د ښکلا خبرې
زما په خله وي بس د ستا خبرې

مه کړه د تلو خبرې کښېنه واوره
لا خو په زړهٔ مې دي بلها خبرې

پام کوه یاره د دروغو زور دے
کمې کوي خلق رښتیا خبرې

زما به نه شې اے زما دلبره
ته که منې د دې دنیا خبرې

چا راته وې صرف په ما نه لګي
په تا هم ښې لګي زما خبرې

څوک لېونے څوک ئې کم عقل ګڼي
شعیبه کړې چې څوک صفا خبرې

★★★

ژوند که بې له تا نه تېرېدلے شو مره ښۀ به وه
زړۀ ظالم که تا نه صبرېدلے شو مره ښۀ به وه

دا چې پسرلے مدام د بل کلي په لاره ځي
کله کله لار کښې تېروتلے شو مره ښۀ به وه

نه چې ډېر مالداره وے نه د پولې پرق ته ناست
خپل مشر مو داسې کس تا کلے شو مره ښۀ به وه

دا چې دے روان توپک په لاس کښې چې بس اولم ئې
دا وروور که دې وروور نه ځارېدلے شو مره ښۀ به وه

ما نه شوک حسينه، با حيا کلي کښې نه وه خو
لوښه د غريب هم چا پوښتلے شو مره ښۀ به وه

زۀ لکه ماشوم غوندې آزاد او بې پرواه ګلې
ستاسو چم ته تللے او راتللے خومره ښۀ به وه

هر پښتون پښتو ژبه وئيلے او ليکلے شوه
هر پښتون پښتو ژبه لوستلے خومره ښۀ به وه

وے چې پېښور د امن کور لکه اول چې وو
زۀ پکښې بې غمه ګرځېدلے خومره ښۀ به وه

لوړ مقام زمونږ وے د دنيا په هيوادونو کښې
مونږه ته هم ټول خلق زير پېدلے خومره ښۀ به وه

ښکلې چې شعيب خان د خپل زړګي کور کښې ساتلې ئې
داسې که تا هم زړۀ کښې ساتلے خومره ښۀ به وه

★★★

یار چې له یاره جدا کېږي خلقه
زړۀ ئې یو بل پسې خوږېږي خلقه

څۀ چې تېرېږي په هغه تېرېږي
د چا جونګړه چې سوزېږي خلقه

د بې عقلۍ او نا پوهۍ د لاسه
لږه خبره وي ډېرېږي خلقه

نادان جانان ته څوک څۀ اونه وائي
لاره کښې ما ته چې اودرېږي خلقه

که ئې هر څو زړونو کښې پټه ساتۀ
مینه هیڅ کله نه پټېږي خلقه

ما ته ئې مینه لېونۍ راکړې
شعیب مې چرته کښې هېرېږي خلقه

★★★

که ستا په شانې ښائست په دې جهان نشته
مئين هم بل ګلالۍ زما په شان نشته

چې وي خوشحال نړۍ کښې هر وخت په يو حالت
داسې څوک نه وينمه داسې انسان نشته

شاعر ئې نه ستائي د سرخو شونډو په سر
نن سبا پوزه باندې د چا پېزوان نشته

زما زيبا وطن د اور لمبو کښې سوځي
پکښې د امن ګله نوم او نشان نشته

محفل نن سوړ سوړ دے بېخي څۀ خوند ئې نشته
اوهو! راياد شو راته نن شعيب خان نشته

★★★

ښکلې حياناکه پرده داره ده
خدائيګو جوړه شوې ما د پاره ده

يو د محبت په چارو نه رسي
نوره ښۀ قابله ده هوښياره ده

څوک چې ورته اوګوري شېدا شي پرې
دومره زړۀ راښکونکې حسن داره ده

خپله مينه سر له رسولو ته
سر قربانولو ته تياره ده

کله چې غصه شي نو توبه توبه
ډېره غصه ناکه جهګړماره ده

ټولو نه اعلى صفت ئې دا دے چې
ما سره مخلصه وفاداره ده

★★★

بـل بـه اورونـه شـي سـرخي پـه شـونډو پـورې نـه كـړې
دا اثـري سـتـرګې دې هـم پـه غلطـۍ تـورې نـه كـړې

خود به ئې ورځ په ورځ ګيرېږي مئينان په جال كښې
تـا چې دې تورې اوږدې زلفې چرتـه سپورې نه كـړې

د وِصـــل شـــپه ده بـــس خبـــرې بـــه د زړونـــو كـــوو
ستـا دې قسـم وي چې خبـرې بـه نـن نـورې نـه كـړې

بيـا راتـه وايـه بې وفـا كـه تـه مې زړۀ تـه راغلې
مـا د هغـې نـه پـس د زړۀ دروازې پـورې نـه كـړې

تـــه خـــو د غـــم ســـره تړلـــي ئـــې غـــم اوزپـــوُو
خوشحالۍ پېښـه ولې تـه زمـونږ پـه لـورې نـه كـړې

هـر يـو مشـكل راتـه اسـان شـي سـتا دُعـا پـه وجـه
دا سلســـله د دُعـــا بنـــده ګرانـــې مـــورې نـــه كـــړې

★★★

زړۀ مې ژاړي چې ئې وينم چې په کوم يو لورې ځمه
پښتون ګېر د لمبو مېنځکښې که په غر دے که په سمه

هسې نه چې ډزې اوشي هسې نه چې بم چاودنه
زۀ که کور ته په خير راشم نو هم څو څو ځلې مرمه

اور کښې سوځي خوار غريب دي ولې ته په سترګو ړوند ئې
چې په خپل محل کښې پروت ئې ښۀ مزو کښې ښۀ بې غمه

زورور ئې، متهور ئې، هم خبر يم ستا په چل ول
ستا د زور نه يم اغياره، خو توبه مې ستا له ممه

ګلې ډېره موده پس چې د نوښار بازار ته لاړم
ستا بشر به مې ليدلو چې په کومې لارې تلمه

دا مې زړۀ باندې ارمان دے په شعيبه د زړۀ سره
چې زما د غاړې هار شې اوزۀ ستا د غاړې شمه

زما کلے

په کلـو کښـې د ټولـو نـه اوچـت دے زمـا کلـے
ښائسـته پـه دے دنیـا لکـه جنـت دے زمـا کلـے

د کلـي مـو چـاپېره دي ښـۀ ښـکلې شـینکي غرونـه
ښـې یخـې هواګـانې وي ښـۀ ښـکلي منظرونـه
ځوانـان مـو غیـرت منـد او حیانـاکې مـو دي جُونـه
یـو ښـکلې نمونـه د ننـګ او پـت دے زمـا کلـے

زمـونږ د کلـي مېـنځ کښـې ښـې صـفا اُوبـۀ بهیـږي
هـم ځښُـوئـې هـم پـرې لامبُـو پـه شـړا اُوبـۀ بهیـږي
هـم غرونـو کښـې ملګـرو پـه هـر خـوا اُوبـۀ بهیـږي
ښـۀ ډک د پـاک الله د دې نعمـت دے زمـا کلـے

د کلـي یـو سـړک دے چـې نـیم پـوخ دے نـیم کچـه
د جُونـو د تعلـیم هـم پکښـې نشـته مدرسـه
بیمـار لـه مـو ملګـرو وي د یـو الله اسـره
محرومـه د صـحت د سـهولت دے زمـا کلـے

د خلقـــو توجـــه ځـــان لـــه راکـــاږي يـــو منظـــر
د پـــاک الله نـــوم ليـــک د ے ا ے ملګـــرو بـــه يـــو غـــر
صـــفا ښـــکاري د لـــرې نـــه د ســـترګو پـــه نظـــر
پـــه دې وجـــه ملګـــرو خـــوش قســـمت د ے زمـــا کلـــے

خلـــق مـــلا بانـــګ ســـره پـــاڅي ســـحر وختـــي
راوړي د غـــره خرڅُـــون او ســـوَځولَو تـــه لرګـــي
پـــه دې وجـــه ســـاتي خپـــل ښائســـته ښـــکلي بڅـــي
روان هـــم د دې غرونـــو پـــه برکـــت د ے زمـــا کلـــے

حجرې کلي کښې شته دي که ګودر کلي کښې نشته
دشمن شکر د ے څوک د چا د سر کلي کښې نشته
هر خوا ته مينه مينه ده هيڅ شر کلي کښې نشته
ســـاتلے پـــاک الله د هـــر نفـــرت د ے زمـــا کلـــے

جرګـــې کلـــي کښـــې کيـــږي مرکـــې کلـــي کښـــې کيـــږي
پـــه دې وجـــه ملګـــرو فيصـــلې کلـــي کښـــې کيـــږي
قـــدر د ميلمـــه هـــم پـــه حجـــرې کلـــي کښـــې کيـــږي
ملګـــرو مينـــه مينـــه محبـــت د ے زمـــا کلـــے

باران کښې چې خوړ راشي، شي د لارې مسئله
بيا نه شو وړے ملګرو تر قبرونو جنازه
حل نه کړه چا تر اوسه زمونږ دغه مسئله
اوخترے په څۀ لوې مصيبت دے زما کلے

د خاؤرې راوتلې دي په کلي کښې درَنګونه
هر وخت ترې ځي کاهي سيمنټ فيکټرۍ ته ډک ټرکونه
اوکتل پوهانو که يو ځل زمونږه غرونه
ملګرو معدنياتو نه برچت دے زما کلے

قمرميله کښې ټول خلق اوسيږي باشعور
ضلع مو د نوښار او ډاکخانه مو نظامپور
پېښنه زمونږ کلي ته يو ځل اوکړے ضرور
شعيب وائي چې ټول صفت صفت دے زما کلے

١- په کاهي نومي کلي کښې د عسکري سيمينټ فيکټرۍ شاخ دے چې مونږ ورته د کاهي سيمينټ فيکټري وايو-

★★★

بل قتلوي او که نه ځان قتلوي
مسلمان پاخي مسلمان قتلوي

زمونږ په سيمه يو جلاد راغلے
زمونږ د سيمې ماشومان قتلوي

که جنت غواړې په ځان بم اوتړه
په دې خبره مې ځوانان قتلوي

هم مې په کور کښې زنانه وژني
هم مې سپينږيري بوډاګان قتلوي

قتل کړي ټول انسانيت شعيبه
کله چې څوک هم يو انسان قتلوي

★★★

کــه ئـــې ســـاده کـــه ئـــې نـــادان لاليـــه
ئـــې د هـــر چـــا نـــه پـــه مـــا ګـــران لاليـــه

زمـــا د پـــاره ئـــې د ســـرو زرو ګـــران
د بـــل د پـــاره ئـــې ارزان لاليـــه

بيـــا ئـــې د عقـــل دروازې خلاصـــې شـــي
چـــې ګـــزار اوخـــوري د دوران لاليـــه

کـه سـتا پـه شـانې ښائسـت نـه لـري څـوک
نشـــته مئـــين زمـــا پـــه شـــان لاليـــه

شـــعيبه زۀ چـــې ســـتا شـــم تـــه زمـــا شـــې
زمـــا پـــه زړۀ دے دا ارمـــان لاليـــه

اور دې په کور اولګېدئې په خطر پښتونه
لږ په حالاتو باندې اوکړه نظر پښتونه

شوې خوشحالۍ د چم دې په وير ژړا بدلې
امن بدل شولو ټول دلته په شر پښتونه
ولې به نه يم خفه څنګه به غم نه كووم
ته چې په شته كور كښې ئې كډه په سر پښتونه
يو دې په كور بمبارې بله زما نه واوره
دې بم چاودنې هر خوا مه ځه بهر پښتونه
هغوې خو غواړي دلته دغه د شر خوروَنه
چا چې نوم تا له دركړو د ترهګر پښتونه
څنګ چې پيدا وو وړاندې فخرِ افغان دلته كښې
خدا ے دې پيدا كړي يو بل هغسې نر پښتونه

شعيبه دومره ظلم چې په دې دومره څۀكښې
ښځې ابلې ښځې، سر ببر، ګرځې نهر پښتونه

★★★

نه ستا زړګے صبرېږي نه زما زړګے صبرېږي
د مينې زوروري نه د چا زړګے صبرېږي

چې تکه توره شپه کښې دوه مئين لېوني ناست وي
وللّٰه که د يو بل ئې تر سبا زړګے صبرېږي

که مرم که پاتې کېږم د هغې ديد ته مې بيائي
چې يو ځل اموخته شي کله بيا زړګے صبرېږي

دا کوم يو دروغژن دے چې ئې دا خبره کړې
"اشنا چې بې وفا شي د اشنا زړګے صبرېږي"

چې اووائي دروغ نو د زړګي سکون ئې نه شي
ملګرو په صفا، رښتيا ووېنا زړګے صبرېږي

چې چرته هم تري لاړ شم د راتلو فکر کښې اوسم
وللّٰه که مې د ښکلي پښتونخوا زړګے صبرېږي

★★★

کــــوه د مينــــې د مســــتۍ خبـــرې
څـــۀ لــــه کـــوې د مايوســــۍ خبـــرې

راځـــي د غـــم خبـــرې ډېـــرې اشـــنا
کمـــې راځـــي د خوشـــحالۍ خبـــرې

دا هـــم د مينـــې يـــو اثـــر اوګڼـــه
دا چـــې کوومـــه لېـــونۍ خبـــرې

څنګـــه هغـــه څنګـــه ئـــې مينـــه خلقـــه
څنګـــه کـــړم هېـــرې پخـــوانۍ خبـــرې

جانانـــه مـــا ځـــان ســـره سيال مـــه ګڼـــه
مـــا نـــه دي پـــاتې د ســـيالۍ خبـــرې

شـــعيبه تـــا تـــه بـــه څنـــګ ګرانـــې نـــه وي
د خپلـــې ښـــکلې ګلالـــۍ خبـــرې

دا نظم ما د خپل ګران او خوږ استاد ګران مسعود جان صاحب (ګورنمنټ پوسټ ګریجویټ کالج نوښار، پولیټیکل سائنس څانګه) د مور بي بي د وفات نه پس لیکلے د ے. نظم مې اصل کښې د مسعود جان صاحب د مخې لیکلے د ے یعنې هغوې چې ما ته څهٔ وئیلي وو په دې حقله هغې ته مې د قلم ژبه ورکړې ده.

مورې

زما د زړهٔ ډیوې وې په تا روښانې مورې
اے په ما ګرانې مورې الله دې مل شه

ستا الله هو الله هو زهٔ هېرولے نه شم
مورې د ستا جدائي خدائیګو زغملے نه شم
دا راډک شویزړهٔ مې ایسا رولے نه شم
هر وخت کووم درپسې زهٔ ژړاګانې مورې

د ستا وجود سره وه ډېره ښکلا په کور کښې
وې خوشحالۍ زمونږه سحر، بېګا په کور کښې
ستا په دعا باندې وه هر خوا رڼا په کور کښې
د ځان سره دې یوړې اٰ رڼا ګانې مورې

مورې د مینې نه ډک هغه کتل دې نشته
هغه مسکا دې نشته هغه خندل دې نشته
ته رانه لاړې داسې چې بیا راتلل دې نشته
زما د زړۀ کوڅې دې کړلې ویرانې مورې

پرون مې ته بې حده را یاد بدلې مورې
تا چې زما غېږه کښې سلګۍ وهلې مورې
زۀڅۀ خبر وومه چې زما نه تللې مورې
ډېرې مې کړي درته وې دعا ګانې مورې

یو شعر

ما له ئې ټوپک د دوکان لوبو له اغستے وو
ماسره ډېر بد په ماشومتوب کښې بابا کړي دي

★★★

ډېره موده پس چې يو څو لحظو ته يار ملاو شي
روح مې سکون اومومي زړهٔ ته مې قرار ملاو شي

د کلي بعضې ساده ګلې ښار کښې مخ ښکاره کړي
خو زر ئې پټې کړي چې د کلي کس په لار ملاو شي

بيا به هم نه يُو مونږ خوشحاله انسانان يُو کنه
که هر يوکس ته په خپل ژوند قسمت اختيارملاو شي

زما د چم خلق سحر نه تر ماښامه پورې
په دې اميد تېکرې خوري که چرته کار ملاو شي

زهٔ چې هغې ته کله هم د ملاقات اووايم
په خله که اوکړي هغه سل ځلې انکار ملاو شي

هغه بيا ټول عمر له ښاد وي دا دعوه ده زما
ښهٔ تربيت چې کوم ماشوم ته د مور پلار ملاو شي

★★★

چــم کښــې بــه نــه وي د بــدو خبــرې
لنــډې يړي تــل کــه پــه جرګــو خبــرې

مــا بانــدې زهــر لګــي بــد مــې لګــي
کــوي پښــتون چــې بــې پښــتو خبــرې

لاړه ســاده ليلــى هوښــياره شــوله
کــوي د ســترګو پــه ښــو خبــرې

هــر وخــت رټــم پــه دې عــادت ګلالــۍ
لاناســته نــه وي کــړي د تلــو خبــرې

تــه هــم پــه زړهٔ يــو څــو خبــرې لــرې
زمــا پــه زړهٔ هــم پــه دي يــو څــو خبــرې

د زړهٔ خبــرې پــه پــرده کښــې کــوه
شــعيبه نــه دي د کوڅــو خبــرې

★★★

پېغله ئې ده ښکلې لکه حُور زما د کلي
زلمي هم په نړۍ دے مشهور زما د کلي

په خلقه خوشحالي تړې نه په بله بله درومي
خو مخه د غم باد کوي ضرور زما د کلي

د کټې بې له د نه بل والله چې کور کښې نه وو
دا کس چې بم چاودنې کړو معذور زما د کلي

"قل هو" وربانديې چُف کړي خپله مور چې په خير راشي
چې کور نه مزدورۍ ته ځي مزدور زما د کلي

زړېږي به د پلار په کور کښې ښکلې پېغلې څۀ له
که ختم شو د داج دغه ناسُور زما د کلي

شعيبه دا قيصه خو تولې ورانه د هغو ده
چې دي په حفاظت بانديې معمور زما د کلي

ګـيـلـه

ما درته نه ويل
ګله واده دې اوکړو
بس د ے بهر ته مه ځه
دلته په خپل وطن کښې
څۀ کار روزګار کوه
خو تا مې اونه منل
ګله بهر ته لاړې
زۀ دې په سره جوړه کښې
کور کښې يوائې پرېښووم
پس له هغې جانانه
ما د همځولو سره
د خوشحالو په موقعه
چرته سيالي اونه کړه
ما اخترونو کښې هم
خپلو لاسونو باندې
نکريزې پورې نه کړې
ما چرته خپلې لېچې
د بنګړو ډکې نه کړې
ستا ښائسته بچې هم

لکه يتيم لوې شوي
دوي د پلار ميني ته
دي ترسېدلي مدام
دوي به هر وختې وئيل
بابا به کله راځي.......
ته به دوه درې کاله پس
صرف دوو، دريو مياشتو ته
لاړيه کور ته راغلې..
منم غربت وو اول
خو چې بچي دې لوے شُو
نو بيا خو ستا بچو
بنۀ مزدوري کوله
ما درته بيا بيا وئيل
بس دے وطن ته راشه
ولې تا چرته منل....
تا به وئيل شېرينې
زۀ اوس په خپل وطن کښې
وخت تېرولے نه شم
زۀ د څو مياشتو نه زيات
شېرينې خپل وطن کښې

ایسا رېدلې نه شم..........
لالیه تا خو زما
ښامار ښامار زلفې
تورې اوږدې او تار تار زلفې
ستا د راتګ په ختمېدلي طمع
د انتظار په تکه سره غرمه
دغه دي سپینې کړلې....
تا خو زما ځواني
تا خو زما خوشحالۍ
تا زما هر ارمان
پردي وطن نه ځار کړو..
زما خو بیا هم خبر د ے
ولې چې تا ته ګورم
ته هم ځواني نه لرې
ته هم مستي نه لرې
په سپینه رېږه باندې
چې خپل کاله له راغلې
خوا له مې هله راغلې......

ګناه مې دا وه

زۀ وومه ښکلې
څۀ بې حسابه
مخ نه زما به شغلې ختلې
ووم پرده داره د حيا ډکه
زما کردار هم ډېر پاکيزه وو
خلقو به هم وې ته ډېره ښۀئې
دا به ئې هم وې ئې ګناهګاره
ګناه مې دا وه لور د غريب ووم
نو وادۀ نۀ شوم
په کور زړه شوم....

فرق

خدایه د ستا په زمکه
د ستا د زمکې خلق
څومره انصاف خوښوي
ځکه چې هر کله هم
د خوراک څښاک په نرخ کښې
د ګېس د تېلو نرخ کښې
یا د بجلۍ په نرخ کښې
څۀ اضافه شوې ده
نو خدایه ټول خلق دې
د حکومت برخلاف
راپاڅي چغې وهي
ټول دوکانونه بند کړي
پوهنتونونه، کالجونه بند کړي
مظاهرو د لاسه ټول سړکونه بند کړي
ولې حېران په دې یم
خدایه هم دا خلق دي

د خوار پښتون په وينه
مظاهره خو پرېږده
اُف د خلې نه اوباسي
که د پښتون وينه بهېږي خبر د ے
پښتون دې ورځ تر ورځ قتلېږي خبر د ے
خو د بجلي نرخ کښې
د خوراک څښاک نرخ کښې
د ګېس، د تېلو نرخ کښې
دې اضافه نه کېږي......
خدايه د ستا په زمکه
د ستا د زمکې خلق
څومره انصاف خوښوي....

يو شعر

مېلمه به ترې نه لاړ نه شي نهر په څۀ قيمت
کوربه که خلقه وي د پښتنې موره پېدا

هائيکو

اے پـــــه مـــــا ګرانــــــي
لاړې د زړۀ مـــــــې مــــــدام
پـــــــه تــــــا ودانـــــــې

★★★

زمـــــونږ پــــــه ســــيمه
د امـــــن بــــاد راولــــــه
غـــفـور، رحـيـــمـــــــــه

★★★

اوواپـــه چـې څـۀ رنګـې دې ښـــاده کــړم
تــــا راتـــه ســـکون خوشـــحالي راکړلــــه
تــــا خـــو بـــس زۀ اوســـومه بربـــاده کـــړم

★★★

د مينـې جـال کښـې چـې څـوک راګېـر شـي
د مينـې خونـد ئـې چـې تـر خلـې تېـر شـي
کـه افلاطـون وي، هـر څـۀ ئـې هېـر شـي

★★★

هسې نه ښکارې کړي د ظلم، جبر
لاړو کوڅو کښې ځناور ګرځي
میاندې بهر ته ماشومان نه پرېږدي

★★★

خدایه تر څو به مونږ په خپل وطن کښې
د بل په خوښۀ په مرضۍ کوُو ژوند
په معاشي توګه آزاد کړې مونږه

★★★

خپله د خټو لوُټو کور کښې اوسم
خو د محل مالک خپل مشر جوړ کړم
ځکه زما مسئلې نه حل کېږي

★★★

او به څښُو دواړه خورماتنګ[1] کښې او به
بیا به زاوۀ[2] ته ځُو لرګي به اوکړُو
زۀ به ئې خرڅ کړم ته به کور ته راوړې

★★★

اوړي کښې يخې وي د واورې په شان
ژمي کښې ترمې د لامبو جوګه وي
د جرجُوړي[3] خوړو اُوبو ځاربړه

★★★

نه خو ګورګورې نه کرکڼې، بېرې
نه د پلوسې ګل تحفه کښې غواړي
ګل د ګلاب غواړي جانان خو نشته

۱-خورماتنګ زمونږ د کلي غرونو کښې يو غر دے چې اوبه پکښې پرېمانه دي- زمونږ کلي ته هم دغه اوبه د پائپونو په ذريعه راغلي دي-
۴-زاوۀ هم زمونږ غرونو کښې يو غر دے چې د لرګو د پاره شهرت لري-
جرجُوړے- زمونږ کلي کښې د يو کمر نه اوبه راوځي چې دغه بيان شوېښائستونه لري-

يه پېښوره په تا څهٔ شوي دي..؟؟

د مــړو ډکــې ســتا کــوڅې ســتا بازارونــه کنــه
يــه پېښــوره پــه تــا څــهٔ شــوي دي
هــره ورځ چَــوي دلتــه ځــائے پــه ځــائے بمونــه کنــه
يــه پېښــوره پــه تــا څــهٔ شــوي دي

پــه تــا مئــين چــې کلــه هــم د ســتا پــه لــور راځــي
يقــين ئــې نــه وي چــې ژونــدے بــه راشــي
ټولــو تــه اوګــوري پــه مينــه چــې د کــور راځــي
يقــين ئــې نــه وي چــې ژونــدے بــه راشــي
مــور ئــې د خبــر تــر واپســۍ کــوي نفلونــه کنــه
يــه پېښــوره پــه تــا څــهٔ شــوي دي

زلمو به وي که چرته لرې شان پیسې راشي
نو پېښور کښې به سامان اخلو
پېغلو به وي چې د وادهٔ ورځې نزدې راشي
نو پېښور کښې به سامان اخلو
خو اوس د پېغلو بې له تا کېږي وادونه کنه
یه پېښوره په تا څهٔ شوي دي

پښوا به هرې مور د خدای دغه دعا کوله
چې پېښور کښې مې افسر شي بچے
د هر بابا زړګي هم دغه التجا کوله
چې پېښور کښې مې افسر شي بچے
منع کوي اوس ستا د لور خپل اولادونه کنه
یه پېښوره په تا څهٔ شوي دي

اول چې ستا خیبر بازار صدر بازار کتو له
د لرې لرې ځائے کوم خلق راتلل
ستا چوک یادګار او تاریخي بالاحصار کتو له
د لرې لرې ځائے کوم خلق راتلل
نن ستا د نوم نه وړي غوږونو ته لاسونه کنه
یه پېښوره په تا څهٔ شوي دي

هره ورځ دلته نوي نوي حادثې کېږي
پکښې مړه کېږي بې ګناهه خلق
دلته معمول په شان خودکشې دهماکې کېږي
پکښې مړه کېږي بې ګناهه خلق
کلي په کلي چم په چم کېږي وېرونه
کنه يه پېښوره په تا څه شوي دي

ډک د مولاد بې شماره نعمتونو نه وې
تۀ د ګلونو د رنګونو ښار وې
ډېر په امان ته د ګولو نه د بمونو نه وې
ته د ګلونو د رنګونو ښار وې
ستا د ښائست نه وو جهان کښې مثالونه کنه
يه پېښوره په تا څه شوي دي

وران پېښور چې يو ځل بيا د امن کور جوړ شي
زۀ شعيب خدايه نه دغه سوال کوومه
چې بيا د ټولو پښتنو د زړۀ ټکور جوړ شي
زۀ شعيب خدايه نه دغه سوال کوومه
چې پکښې اخلم په ډاډه زړۀ قدمونه کنه
يه پېښوره په تا څه شوي دي

پوښتنه

زما همزولي پېغلې
په سره ډولۍ کښې پخوا
د لالي کور ته تلې
د بعضو بعضو پکښې ستر اولادونه ګرځي
خو زۀ په کور ناسته يم
ځکه چې ښکلې نۀيم
د رنګه توره يمه
د مخ جوسه مې زړۀ راښکونکې نۀ ده
نه د پيسې والا يم
نوره د خدا ے په فضل
څۀ خامي نه لرمه
زۀ د خپل چم د سرو
د دې بې حسه سړو
يوه پوښتنه کووم
چې تاسو ټول سړي چې
کله وادونه کوئ
نو د وادۀ نه مخکښې

د کردار مخ اړوئ
د حيا مخ اړوئ
په واړه پېغلو کښې
صرف ښائست لټوئ
خو چې واده مو اوشي
بيا هم د هغې ښځې
تاسو په ځائے د ښائست
يو ښۀ کردار غواړئ
نو د وادۀ نه مخکښې
د ښائست تَله باندې
دا پېغلې څۀ له تلئ....